- له پاکستان څخه د افغان مهاجرينو د جبري اخراج او خپل هېواد ته د بېرته را ستنېدو په اړه د رئيس الوزراء الحاج ملا محمد حسن آخند صاحب حفظه اللّٰه د غږيزې وينا متن
- له پاکستان څخه د افغان کډوالو د اجباري اېستلو په اړه د تحریک طالبان پاکستان د محترم امير مفتي ابو منصور عاصم (نور ولي محسود) حفظه اللّٰه د وينا متن
- اوس مو ګاونډيان ډېر بې ضميره شوي دي!



مجله صدای طالبان 03
ربيع الثاني ۱۴۴۵ ه ق بمطابق نومبر ۲۰۲۳ ء





http://t.me/TTPmagazine

RABI UL SANI 1445

دريم ټوک

NOVEMBER 2023

http://www.umarmedia.xyz

فهرست

د فلسطين په ننګه

د غزې پر بې دفاع مظلومو ولســـونو د ناپاکو اسرائيلي پوځونو وحشي يرغل او په دې اړه د مسلمانو هېوادونو د واکمنانو بې حسي د دوی د ذهني، فکري او اقتصادي غلامۍ ښکاره ثبوت دی.

د امريکا له باطلې او حيوان صفته نطفې څخه پيدا دغه وحشـــي او جابر اسرائيلي حکومت او پوځ له تېرو اويا کلونو راهيســـې په پرله پسې توګه د فلسطين پر بې دفاع مظلومو ولسونو ډول ډول وحشتونه او ظلمونه ترسره کوي، خو په دې وروســـتي يرغل کې يې د انسانيت څه چې د ظلم، وحشت او بربريت ټول حدود او قوانين مات او هرڅه يې تر پښــــو لاندې کړي دي، اسرائيلو په ښکاره توګه په دې يرغل کې نه هېرېدونکي تاريخي جنګي جنايتونه ترســـره کړل او ترسره کوي يې، چې په پايله کې يې د کوچنيانو، سپين ږيرو او ښځو په شمول په زرهاوو بې ګناه مظلوم فلسطيني مسلمانان په شهادت ورسېدل.

بې ګناه معصوم کوچني کوچني ماشـــومان او ښځې بمبار شوې، عامه استوګنځايونه، روغتونونه، تعليمي اداري او همداراز فلاحي او خيريه مرکزونه هم په ړندو بمباريو او وحشـــي هوايي بريدونو کې په نښه شول، خو د ملګرو ملتونو نړيواله اداره له دې ټولو ظلمونو ســـره سره دې هرڅه ته د ننداري کولو په حال کې چوپه خوله ناسته ده.

امريکا او نورو اروپايي هېوادونو په ښـــکاره توګه د اسرائيلو په دغه ظلم باندې خپل ملاتړ اعلان کړ، خو له بده مرغه د اسلامي امت تش په نوم واکمنان او حکمرانان حتی د اســـرائيلو په خلاف او د فلسطين د خلکو په حق کې د بيان او څرګندونو توان هم نه لري.

د مســـلمانانو پر لومړۍ قبلې او همداراز د انبياء کرامو عليهم السلام په خاوره کې د دې ظلم او ستم په ليدلو سره بيا هم د دوه ميلیارده څخه ډېر نفوس لرونکی مســـلمه امت يوازې په دعاګانو اکتفا او بسنه کوي.

نه پوهېږو، چې د مســـلمه امت تېر غيرت، عزت، برم، دبدبه، شان او جلال چيرته ورک شول؟

ذلت او بدبختي د دې ملت ســـر نوشت ګرځېدلی، دا چې کرد مسلمه امت په ټولييزه توګه د جهاد في سبيل اللّٰه عظيمه فريضه پرې ايښـــې، جهاد ته د دهشت ګردۍ په سترګه ګوري، په دنيوي عيش او عشرت کې ډوب دي او په خپلو کورونو کې د غفلت خوبونه کوي، نو معلومه او حتمي خبره ده چې دا ډول زړه بوږنوونکی حالت به پېښـــېږي.

د دې ټولو حالاتو او واقعيتونو باوجود سلام دې وي د غزې د اسلامپاله، جهاد پاله او مؤمنو ولســـونو ديني غيرت او وقار ته، چې د پيغمبرانو عليهم السلام د مســـکن او مدفن د ساتنې او همدا راز د دين مبين اسلام د عزت په خاطر يې خپل مال، ژوند، کورنۍ، اولادونه او هرڅه قربان کړل، خو د باطل په وړاندې يې هيڅکله ســـرټيټې قبوله نکړه، سلام دې وي هغو ابطالو ته چې د ذلت لاره يې رد او د عزت او شـــهادت لاره يې غوره کړه.

هغه ورځ ليرې نه ده چې د غزې د جهاد پاله اولســـونو دغه سپېڅلې او عظيمې قربانۍ او نه هېرېدونکې وياړلې جهادي مبارزه به رنګ راوړي او د اســـرائيلو دا ناپاک دولت او حکومت به د ځمکې له مخ څخه ليرې او محوه شي. إن شاء اللّٰه تعالی

حکم بغیر ما أنزل اللّه

لیکوال: ډاکټر وهاج افغان

الحکم بغیر ما أنزل اللّه (د اللّه تعالی له شرعي پرته په بل څه فیصله کول)، دا هغه خطرناکه مسئله ده چې خوارجو پرې علي او معاویة رضي اللّه تعالی عنهما کافران کړل، د علي له پوځه ووتل، او د هغه په ضد یې په جګړه لاس پورې کړ، هغوی په دې آیت استدلال کاوو: (إن الحکم إلا للّه) (نشته حق د فیصلې کولو مګر د اللّه لپاره) او اعتراض یې کاوو چې ولې علي رضي اللّه عنه د اللّه تعالی د فیصلې په ځای دوه صحابه کرامو ته فیصله وسپارله، تر څو د حضرت علي او معاویة رضي اللّه تعالی عنهما ترمنځ فیصله وکړي، صلحه وکړي، هغوی ویل چې: د معاویة حکم د اللّه تعالی په شرعه کې معلوم دی، یا به ورسره جګړه کوو، یا به تسلیمیږي، بله لار نشته.

وروسته چې کله ترجمان القرآن حضرت عبد اللّه بن عباس رضي اللّه تعالی عنه د خوارجو مناظرې ته ورغی، نو د دغې مسئلې ځواب یې داسې ورته وکړ: تاسې وایاست چې علي دوه کسان د فیصلې کولو لپاره وټاکل، تاسې وګورئ چې اللّه تعالی په قرآن کریم کې د سوی (خرګوش) او ورته نورو هغو حیواناتو په اړه چې ښکار کیږي، او قیمت یې د یو درهم څلورمه حصه وي، داسې فرمایي: که چېرته یې په عمره یا حج کې احرام تړونکی مسلمان ووژني، نو د قیمت ټاکلو لپاره یې باید دوه عادل کسان وټاکل شي، تر څو دغه احرام تړونکی ټاکل شوی قیمت ادا کړي، {یَا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا لَا تَقْتُلُوا الصَّیْدَ وَأَنْتُمْ حُرُمٌ} إلی قوله: {یَحْکُمُ بِهِ ذَوَا عَدْلٍ مِنْکُمْ}.

نو د اللّه لپاره، آیا د سړیو حکم کول په یو خرګوش او ورته نورو کې بهتر دی، او که د مسلمانانو په وینو کې، او که د هغوی ترمنځ د صلحې په راوستو کې بهتر دی؟

همدارنګه کله چې د ښځې او خاوند ترمنځ یې اختلافات ډېر شي، نو اللّه تعالی امر کوي، چې یو فیصله کونکی دې د ښځې له کوره، او بل دې د سړي له کوره وټاکل شي، تر څو د ښځې او خاوند ترمنځ جوړجاړی وکړي.

اللّه تعالی فرمایي: {وَإِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَیْنِهِمَا فَابْعَثُوا حَکَمًا مِنْ أَهْلِهِ وَحَکَمًا مِنْ أَهْلِهَا إِنْ یُرِیدَا إِصْلَاحًا یُوَفِّقِ اللَّهُ بَیْنَهُمَا}.

نو اللّه تعالی د سړو فیصله کول، یوه روغه لار بللې. انتهی.

د نني خوارجو استدلال د (حکم بغیر ما أنزل اللّه) په مسئله کې له خپلو پخوانیو ورونو سره ډېر زیات شباهت او ورته والی لري، دوی وایي چې: حکم بغیر ما أنزل اللّه (د اللّه تعالی له شرعي پرته په بل څه فیصله کول) داسې کفر دی چې مسلمان له اسلام څخه باسي.

دوی ته دې وویل شي: څو کرته که د اللّه تعالی د شرعې په ځای په بل څه فیصله وشي؛ نو حاکم یا قاضي کافر کیږي؟ یو ځلې، دوه ځلې، سل ځلې؟؟ که دوی عدد وټاکي، نو په عدد هیڅ دلیل نشته،

د یو او زرو هیڅ توپیر نشته، او که چېرته ووایي چې په مطلق ډول، نو ډېره ستونزمنه ده چې د معصوم علیه السلام او سترو خلفاو راشدینو څخه وروسته دې داسې څوک وي؛ چې ټولې فیصلې یې د اللّٰه تعالی له شرعې سره برابرې وي، حتی د دوی هغو اسلافو چې حضرت عثمان ذي النورین رضي اللّٰه تعالی عنه یې په شهادت ورساوه، په همدې دلیل چې عثمان رضي اللّٰه تعالی عنه ګواکې غیر شرعي کارونه کول، نو لهذا وینه تویول یې مونږ ته حلال دي، د علي رضي اللّٰه عنه کیسه خو تر عثمان ډېره ښکاره او څرګنده ده، چې هغه یې کافر کړ، او په ضد یې د جنګ اعلان وکړ.

اللّٰه تعالی په قرآن کې د (حکم بغیر ما أنزل اللّٰه) په هکله فرمایي:

ولم یحکم بما أنزل اللّٰه فأولئک هم الکافرون.

ولم یحکم بما أنزل اللّٰه فأولئک هم الظالمون.

ولم یحکم بما أنزل اللّٰه فأولئک هم الفاسقون.

ژباړه: او څوک چې له هغه څه پرته چې اللّٰه تعالی نازل کړي دي، په بل څه فیصله وکړي، نو هغوی کافران دي / ظالمان دي / فاسقان دي.

فسق او ظلم خو یې معلوم دی، خو د لومړنې آیت په اړه له ترجمان القرآن عبد اللّٰه بن عباس رضي اللّٰه تعالی عنه څخه پوښتنه وشوه، هغه وفرمایل: کفر دون کفر، دا هغه کفر دی چې له کفره کم دی، یانې کبیره ګناه ده، په شریعت کې کله کله په کبیره ګناه د کفر اطلاق کېږي، لکه حدیث کې چې راځي:

سباب المسلم فسوق، وقتاله کفر.

ژباړه: د مسلمان ښکنځل فسق دی او جګړه کول ورسره کفر دی.

د اهل سنت ځینې علماء کرام د دې درې راوړل شویو آیتونو تفسیر داسې کوي:

د (حکم بغیر ما أنزل اللّٰه) مسئله څو حالته لري، کله پرې حاکم یا قاضي یا هر فیصله کوونکی کفر ته وځي، او کله ظلم او فسق ته.

کفر ته پرې هله وځي، چې دغه کار حلال وګڼي، یا ووایي چې: د اللّٰه تعالی شرعه (قانون او دین) زمونږ د زمانې لپاره مناسب نه دی، یا دا چې وضعي قوانین د اللّٰه تعالی له شرعې (شرعي قانون) څخه ښه دي، یا ورسره مساوي دي، نو دا د کفر حالت دی.

خو که چېرته د نورو دنیوي هوسي اسبابو لپاره دا کار وکړي، او د اللّٰه تعالی د شرعې د تعظیم قایل وي، نو حاکم بیا د فسق او ظلم حالت کې قرار لري. اما که چېرته د اکراه حالت وي، نو بیا ګنهګارېږي هم نه، ځکه چې د اکراه (اجبار) په حالت کې اللّٰه تعالی د کفر کلمه رخصت ګرځولې، اللّٰه تعالی فرمایي:

(إلا من أکره وقلبه مطمئن بالإیمان).

ژباړه: که څوک د کفر د کلمې په ویلو مجبور شي، او زړه یې په ایمان مطمئن وي، نو هغه کافر نه دی.

او که چېرته انسان عزیمت غوره وکړي، د کفر کلمې او ګناه ارتکاب ته غاړه کېنږدي، صبر وکړي او ځان مرګ یا بل ستر خطر ته ورکړي، نو دا یې خپله مرضي او خوښه ده، که ووژل شي، یا ستر تاوان ورته پېښ شي، نو ان شاء اللّٰه شهید او د لوړو اخروي درجو او ثوابونو ګټونکی به وي.

دلته یوې بلې اهمې مقارنې ته اشاره کوم، د

اسلام پنځه بناء دي، که چېرته د شهادت د کليمې (لاإله إلا اللّه محمد رسول اللّه) ويونکی د لمانځه په پرېښودو (على الأرجح وقول جمهور أهل السنة) د زکات په پرېښودو، د حج او روژې په پرېښودو نه کافر کيږي، چې دا د اسلام بناوې دي، نو په (حکم بغير ما أنزل اللّه) څنګه کافر شي؟ لږ د ذهن خورولو ته اړتيا ده.

نو نتيجه دا شوه چې حکم بغير ما أنزل اللّه (د اللّه تعالى له شرعې پرته په بل څه فيصله کول) کفر نه دی، کبيره ګناه ده، هغه که د خال خال ناسمو فيصلو په بڼه را څرګند شي، يا د هغه وضعي قوانينو په بڼه چې له اسلامي احکامو سره تضاد لري.

بله اهمه نقطه چې دلته ورته اشاره کول غواړم؛ که چېرته په اسلامي هېوادونو کې سياسي حکومتونه شرعي احکام تعطيل هم کړي، خو مسلمان ولسونه يې تعطيل نه کړي، نو په سلو ۹۰٪ يا ۹۵٪ حکم بما أنزل اللّه، د اللّه تعالى شرعه به بيا هم تطبيق وي، بيا هم تطبيقيږي، ځکه چې (حکم بما أنزل اللّه) يوازې د لوړ سياسي حاکم يا حکومتي قاضي تر فيصلې پورې منحصر نه دی، بلکه ډېر عام دی، دې مهمې نقطې ته ډېر خلک فکر نه کوي، په دې کې لاندېني مسائل داخليږي.

مسلمان خپلې څلور بناوې د اسلام څنګه عملي کړي؟ مسلمان د خپل مسلمان ورور سره څرنګه چلند وکړي؟ مسلمان خاوند له مسلمانې ښځې سره څرنګه چلند وکړي؟ مسلمان پلار په خپلې کورنۍ باندې څرنګه حکومت وچلوي؟ عالم په مسجد کې په څه ډول اسلامي احکام عمل وکړي؟

مسلمانان په اخيستو او خرڅولو (معاملاتو) کې څه ډول اسلامي احکام تعميل کړي؟ په عام ډول مسلمانان په شخصي احوالو کې څرنګه د اسلام حکم تعميل کړي؟؟

مسلمانان خپلې جرګې فيصلې د کوم قانون او کوم مصدر له مخې وکړي؟ او داسې نورې ډېرې ساحې چې د اللّه تعالى شرعه په کې تطبيقيږي. غير اسلامي قضا او غير اسلامي حکومت هيڅوک نشي مجبوروولای؛ چې خامخا دې فيصلې هغوی ته ووړي، او له هغوی سره دې په (حکم بغير ما أنزل اللّه) کې مرسته وکړي.

ما غوښتل چې يوازې يو څو کرښې وليکم، خو خبره را څخه اوږده شوه، مسئله لږه پېچلې ده، که د نني عصر د خوارجو وجه نه وای؛ نو دا مسئله مې په دې ډول نه مطرح کوله، د نني عصر خوارج د ځينو آيتونو په تحت لفظي ترجمه مبتدئين، ساده مسلمانان او نالوستي مسلمانان تېر باسي او غلطوي يې.

ومن اللّه التوفيق، وما علينا إلا البلاغ

له پاکستان څخه د افغان مهاجرینو د جبري اخراج او خپل هېواد ته د بېرته را ستنېدو په اړه د رئیس الوزراء الحاج ملا محمد حسن آخند صاحب حفظه اللّٰه د غږیزې وینا متن

نحمده و نصلي علی رسوله الکریم

اما بعد! خپلو ټولو هېوادوالو په خاص ډول مهاجرینو ورونو ته!

السلام علیکم ورحمة اله وبرکاته !

له پاکستان څخه د مهاجرینو د جبري اخراج په اړه باید ووایو، چې اسلامي امارت د مهاجرینو درد او غم او تکلیف خپل درد، غم او تکلیف بولي، او د دوی د مشکلاتو د حل کولو لپاره یې ټول امکانات په کار اچولي دي، ټولو امارتي ادارو او مسؤلینو ته د مهاجرینو د مشکلاتو د رفع کولو لپاره امر او هدایت کووم، چې باید د امارت ټولې ملکي او نظامي ادارې دې خپل امکانات په کار واچوي ترڅو د مهاجرینو د سر پناه، خوراک څښاک، علاج، تعلیم او نور ټول ضرورتونه یې رفع شي، هیڅ شی ترې ونه سپموئ، د دوی د مشکلاتو د حل لپاره به ټولې لارې په کار اچوئ چې هیڅ یوه ستونزه دې مسلمانانو ته پیښه نه شي، او موږ باید تر خپل بشري توان او طاقت پورې د دوی د مشکلاتو د رفع کولو خپل ټول امکانات په کار واچوو، او مهاجرین ورونه دې پدې سره نه نااميده کېږي څکه چې تاسې ښه پوهېږئ چې د بل وطن، د بل کور هغه متل دی چې پردی کټ تر نیمو شپو دی، څلوېښت پنځه څلوېښت کاله دې مسلمانانو پدې وطن کې تېر کړل، دې ملک او ولس ته یې ډېر خدمت وکړ، زراعت، دوکانداري، تجارات او نور ډېر څه پدې مسلمانانو سره آباد وو، خو اوس هغه مسلمانان چې پدې ملک کې تقریباً څلوېښت پنځه څلوېښت کاله پدې ملک کې د امن ګزاره کړې وه او هیڅ نوع خطر یې نه و پیښ کړی، اوس له داسې مشکل سره مخ شول، نو دوی دې نااميده کېږي نه، دوی خپل کور، خپل وطن او خپل ځای ته روان دي، حکومت، امارت او ولس ټول به یې خدمت کوي، او ټول د دوی د خدمت ته آماده دي.

نو محترمو ورونو مسلمانانو! د هر چا چې هر څومره توان او طاقت وي، چې په ورځ د محشر اللّٰه جل جلاله زموږ او ستاسې څخه پوښتنه ونکړي او په هغه جواب کې بیا ورته ناکامه یو، لا جوابه یو، چې اللّٰه تعالی وايي چې دا زما مخلوق او زما بندګان په داسې غربت او مسکنت او تکلیف او بې عزتۍ او خوارۍ کې را وشړل شول، تاسې څه مرسته او کومک ورسره وکړ، نو ټولو مسلمانانو ته پکار دي چې خپل خدمت چې هرڅه یې په توان کې وي، د خپلو ورونو څخه یې ونه سپموي.

او بل د پاکستان واکمنو ته وایم، هغه واکمن چې دغه پروسه یې په لاره اچولې ده، او دغه د مسلمانانو ازار او تکلیف ته یې ملا تړلې ده، هغه که دغه لنډمهاله یا د مؤقت وخت واکداران دي او که نظامي جنرالان دي، چې د دې مهاجرینو او افغانانو له ازار، تکلیف او مشکلاتو ور رسولو څخه لاس واخلي.

د بې ګناه مهاجرینو نیول، د هغوی کورونو ته ور ننوتل، د هغوی کورونه ورانول، مالي زیان ورته رسول، د هغوی سرمایه ضبطول او په راستنېدلو کې یې په مختلفو شکلونو ازار او اذیت ورکول، په طورخم او چمن کې تر شین آسمان لاندې په یخ کې په ورځو ورځو انتظارول، هغه کارونه دي چې هیڅ قانون که اسلامي قوانین دي که بشري قوانین دي که د همسایه توب او همجوارۍ قوانین دي، هیڅ یو قانون د دغه اجازه نه ورکوي چې همدغسې کړنه یو څوک له یو چا سره وکړي.

حکومتونه که لنډمهاله وي که اوږدمهاله وي، دا ورته مناسب ده چې د خپل حکومت د جریان په وخت کې داسې کارکردګي وړاندې کړي چې هم په ولس کې او هم په بیایان کې د دوی د خدمتونو خلک ستاینه وکړي. نو زموږ د دوی څخه په کلکه دا غوښتنه ده چې افغانان دې په عزتۍ سره نه راباسي، افغانانو ته دې نور ازار نه ورکوي، افغانانو ته دې کافي وخت ورکړي چې په ښه آبرو او عزت سره خپل ملک ته راستانه شي، که دوی دا خبره کوي چې ناقانونه مهاجرین موږ باسو، دا د ده مال، د ده کور ورانول، د ده بې عزتي کول، دا په کوم قانون کې دي. هغه مهاجر خو ستا په اصطلاح چې دا ناقانونه دی، دا د دوی مالونه او پیسې ځینې اخلې، موټر سائیکل ځینې اخلې، موټر ځینې اخلې، کور یې ور ورانوې، دکان یې ور خرابوې، مالونه یې ضبطوې، دا عجیبه نظام دی، دا عجیبه هدایت دی د دې نظام چې دې خپلو عسکرو ته یې کړی دی، چې هیڅ د یو مهاجر مال دې په امن کې نه وي، سر دې په امن کې نه وي، عزت دې یې په امن کې نه وي، سرای او موټر او دکان دې په امن کې نه وي، خو مسلمان به یې، همسایه به یې، همجواره یې، د آئینده فکر ولې نلرې، په دغسې کردار باندې ته بیا څه توقع لرې چې زما او د دې ګاونډې ملک په مابین کې به په څه شکل بیا زندګي وکړو، سړی چې د یو همسایه سره په یو سرای کې ګزاره کوي، څنګ په څنګ په سرایو کې ښه پراه وي، دا کوشش کوي چې د دې همسایه سره ښه ګزاره وکړو چې آئینده مو پخیر وي، بیا که ته یې راباسې نو د دې حق چا درکړی چې ته یې بې عزته کوې، د دې حق تا ته چا درکړی دی چې ته یې کورونو ته ور اورې، د دې حق تا ته چا درکړی دی چې ده په موټر کې موټرسائیکل او بایسکل را اخیستی وي، ته یې ځینې ښکته کوې، د دې حق تا ته چا درکړی دی چې د هغه په جېب کې لک یا دوه لکه کالدارې را اخیستې وي او ته ځینې یې اخلې، چې دا نه درکووم، ته څوک چې د ده څخه خپل او شتمنې یې ورڅخه ضبطوې، آیا په دنیا داسې کوم قانون شته چې د مسلمان په مال یې لاس بر شو، نو ځینې شکوې به یې، هغه که حکومت دی که نظام دی که شخص دی، د اللّٰه جل جلاله څخه وډار شئ، د اللّٰه جل جلاله د قهر څخه وبېرېږئ، او د خپل آئینده فکر وکړئ، که چېرته

داسې وي دغه واکمنان که هغه ملکي دي که نظامي دي، چې اوس په واک کې دي، که جنرالان دي، که دوی له اسلامي امارت سره کوم مشکل لري، مشکل خو په تفاهم حل کېږي، مشکل خو په مذاکره حل کېږي، مشکل خو په خبرو حل کېږي، نو راشه کېنه او ووایه چې ته مشکل لرې، سره کېښنو او خبره به وکړو، هره ستونزه چې لرې، چې ته ستونزه زما سره لرې، د حکومت سره یې لرې، له امارت سره یې لرې، او زور هلته له دغه بې ګناه مسلمانانو څخه وباسې، دا کوم عقل دی کوم منطق دی کوم تعقل دی، دا خو سل په سله کې د ټولو نورمونو د ټولو اصولو خلاف کار دی، که د امارت سره مشکل لرې خو را ورانده شه څه مشکل لرې، خبره به سره وکړو، د دغو در بدرو چې څلوېښت کاله یې ستا په ملک کې ربړی چلوله، چا به نان بایي کوله، چا به ختې کولې، سبحان اللّٰه؛ دغو څه جرم کړی دی؟ چې په دومره بې عزتي یې راباسې، خیر دا خو د حکومتونو او واکدارانو پالیسۍ دي چې خپل ملک هم په مشکلاتو کې اچوي او د نورو ګاونډیانو خیال او فکر هم نه ساتي، خو د پاکستان د مسلمانانو، ولس، علماء کرامو او سیاسي ګوندونو چې له افغانانو سره یې ښه وخت تېر کړی او له مهاجرینو ورونو سره یې په دغه روان ظلم کې چې په دوی باندې روان دی، د هغو د مخنیوي لپاره یې خپل ټول توان او طاقت په کار اچولی دی، اللّٰه جل جلاله دې دوی ته عوضونه ورکړي، او تاسې ته معلومه ده چې د اسلام او همسایه توب اخلاق موږ ته د یو بل د احترام درس راکوي، د مهاجرینو او مسافرو بې عزتي او بې قدري هغه کار دی چې پېغور او بدنامي به یې تاریخ ته پاتې کېږي، او دا ښکاره خبره ده چې د دې پاکستان او افغانستان د مسلمانانو په مابین کې یو ښه اخوت او ورورګلوي هم پخوا وه هم اوس ده او هم په آئینده کې وي، حکومتونه خو ځي او راځي، بدلېږي، نیک حکومتونه هم راځي بد حکومتونه هم راځي په یو ملک باندې، خو ملتونه به پراته وي تر ورځ د قیامته پورې، خطه د ځمکې خو نه بدلېږي، نو مسلمانانو، افغانانو، پاکستاني ورونو او مسلمانانو ته دې اللّٰه پاک دا توفیق ورکړي چې تر قیامته پدې ځمکه ژندګي کوي، چې د ښې ورورګلوۍ او ښه همسایه توب ژندګي سره وکړي.



د حريت لمر، د اقصی تر منارو!

ليکوال: بلاک خپلواک

په نن عصر کې شاوخوا په ټوله اسلامي نړۍ باندې د کفارو فکري، نظامي او سياسي سلطه راغلې او د خپلو وحشيانه کړنو په ترسره کولو سره د خپل ناوړه هدف په لور ګړندي ګامونه اخلي.

بل خوا زمونږ د غفلت پر بسترو کې د فتحې شغلې را قريبې بولو، حقيقتاً له ورانګو يې محروم او په شيطاني خيالاتو مو عقيدې خړوبې شوې دي، لوېديځوالو او دجالي ښامارانو هغه دهشت او بربريت پيل کړی، چې د معصومو ماشومانو چيغې هم د اللّٰه تعالی عرش په لړزان راولي، او د دې وحشت غندنه يوازې او يوازې د سرونو په قربانولو پای مومي.

د دې وحشت په وړاندې مؤمنان يو موټی را څرګندېدل او د دې حيوانيت ته اختتام ورکول له فرائضو ګڼل کېږي.

نن هغه زمانه راغلې چې د دين پر سر له خپلو ځوانيو تېر شو او د اسلام پر احکامو خپلې منګولې خښې کړو.

يوازې هغه قافله به تر ټاکلي هدف رسېږي چې دعوه يې مؤحده ياني د اللّٰه تعالی د دين په ساتنه کې د کفارو ښکرونه په خپلو متو ماتوي.

د اللّٰه تعالی په لاره کې د نفسونو، ځانونو و اموالو په قربانولو او کبابولو کې تلپاتې نېکمرغي او کامل حريت نغښتل شوی دی.دا هغه جهاد او طريقه ده چې څو پيړۍ دمخه زمونږ د اسلام ستر لارښود سيد الرسول (صلی اللّٰه عليه وسلم) د بدر په غزا کې د مشرکينو سره ترسره کاوو، همدا غزا د اسلام په تاريخ کې ځلانده او وياړلې ګڼل کېږي، له همدې بهترينې او وياړلې غزا څخه د استشهاد عظيم عبادت را څرګند شو، د نبي کريم (صلی اللّٰه عليه وسلم) ږغ مبارک و چې پاڅېږئ هغه جنت ته، چې پلنوالی يې د ځمکې او اسمانونو سره برابر دی، هماغه ؤ چې يو تن استشهادي ستوری را پرېوت چې نوم يې حضرت عمير ابن الحمام رضي اللّٰه عنه و، را ولاړ شو، او وې فرمايل: چې اې د اللّٰه تعالی رسوله! دومره جنت چې پلنوالی يې د ځمکې او اسمانونو سره برابر دی؟ رسول اللّٰه (صلی اللّٰه عليه وسلم) ځواب ورکړ: هو! د وخت ستر صحابي استشهادي مجاهد تنکي ځوان له مبارکې خولې څخه داسې خواږه الفاظ ووتل چې (واه واه)

د اسلام ستر داعي ترې وپوښتل: واه واه دې څنګه
ووېل؟ ځواب يې ورکړ: په اللّٰه قسم چې په همدې
هدف مې ووېل چې د جنت له اهل او وګړو څخه شمار
او حساب شم.

نن د همدې کليمې ويونکي نشته چې د جنت په
مينه يې له خولې څخه داسې الفاظ را تراوش شي، يو
څو په شمار رجال شته چې افغان ټاټوبی يې د حريت
پر ورانګو مزين کړ، اوس يې هم جذبې دومره غښتلې
دي چې د خپلې مينې د جنون تر سرحده رسولې، کاش
چې ټولو همداسې کامياب او جنتي فکر درلودلای.

د حضرت براء ابن مالک استشهادي قافلې ته
ضرورت دی، چې هماغسې د دښمن صفوف وشکوي
او له خپلې شرينې اقصی څخه د اسرائيلو پيلت
قدمونه ړنګ او د حريت تر مناړو يې ورسوي.

نن به هماغه حضرت ثابت ابن قيس رضي اللّٰه
تعالی عنه غوندې تاند زلمی را ولاړ نشي چې پر لاس
سپين کليمه دار بيرغ ونيسي او پر ځان سپين کفن
را تاو کړي، او د اقصی تر مناړو ورسېږي.

نن به هماغه د اللّٰه تعالی ويستلې توره حضرت
خالد ابن وليد رضي اللّٰه تعالی عنه غوندې په الهي
دين سمبال او نوميالی قومندان را پيدا نشي چې
اسلامي توغ پر لاس هسک ونيسي او د اسرائيلو د
ماتې په هوډ اسلامي توره وچلوي، تر څو د اقصی
اشغال شوې هيلې بېرته له اسلامي حريت څخه
برخمنې شي.

نن به د هماغه حضرت زيد ابن الخطاب رضي
اللّٰه تعالی عنه غوندې سپيڅلی زلمی نشي را ولاړ
چې د جنګ ډګر کې نعرې ووهي، چې اې مؤمنانو!
خپلې تورې موکلکې ونيسئ، دښمن مو سم له تيغ
تېرکړئ، او مخ په وړاندې ځئ، معاصر فرعونيان
او اسرائيل د محمد ابن قاسم او د وخت ستر فاتح
صلاح الدين ايوبي رحمهما اللّٰه غوندې سترو
جنګي فاتحينو ته انتظار باسي، تر څو اقصی يهودو
څخه د نجات اوښکې زمزمه کړې، معاصر اشغالګر
او صليبيان غرقيدونکې نيل ته خپله راغلي دي.

د ثالث عمر، منصور او جلال رحمهم اللّٰه غوندې
فاتحو امراء وو ته ضرورت لري.

د افغانستان د بدري، فاتح او عمري لښکرو په
څېر نوري جهادي جبهې او محاذونه د مظلومې
اقصی انتظار کوي او هماغسې د حضرت خبيب او
حضرت عمير ابن الحمام رضي اللّٰه عنهما په څېر
استشهاديان غواړي.

اې د اسلامي امت ځوانانو!

تاريخونه جوړ کړئ، له خپلو سينو څخه د باروتو
جامې تاو کړئ. په خپلو قيمتي وينو د ابد وياړ جنت
وګټئ، په خپلو وينو د صحابه کرامو د مزلونو هغه
تتې شوې رڼاوې بيا را تازه او وځلوئ.

هغه د حضرت عبيده ابن جراح رضي اللّٰه تعالی
عنه غوندې د سوبې او فتحې شيبې را باندې ووينئ،
چې د مؤمنانو سينې پرې يخې او سترګې يې د شکر
اوښکې را وڅڅوي.

د معاصرو يهودي يرغلګرو نن ورځ زمونږ او ستاسو
بيت المقدس راڅخه نيولی او اشغال کړی دی، د
غيرت او شهامت زرين ابواب را خلاص کړئ.

د ننګونو او شهکاريو تاريخونه په خپلو وينو تروتازه
او وځلوئ، د مظلومې اقصی اوښکې وچې او زارۍ يې
قبولې کړئ، د معاصر اسلامي استشهاد تر سرليک
لاندې خپلې ځوانۍ لولپه او کباب کړئ.

د اقصی حريت واخلئ او د خپلواکۍ تر مناره يې را
دمه کړئ. نن ستاسو مسؤليت او مکلفيت دی، همدا
تر ټولو بهترين جهاد او غوره انتخاب دی.

ليکوال: شهيد مولانا عاصم عمر رحمه الله

د جمهوريت کارنامه؛ قاديانيان کافران ګرځول

ژباړن: أبو قتاده المهاجر

کوم خلک چې د باطل جمهوري نظام په مټ د اسلامي نظام د راوستلو عقيده لري، د هغوی يو دليل دا هم دی، چې مونږ په دې نظام کې شامل شو، نو قاديانيان مو کافران وګرځول، همداسې به يوه ورځ اسلامي شريعت هم نافذ کړو، قاديانيان کافران ګرځول د مذهبي سياسي ګوندونو او ګوندونو يوه لويه کارنامه ګڼل کېږي او دا د جمهوريت په لاره د اسلامي نظام د راوستلو لپاره د دليل په توګه وړاندې کوي، په دې کې شک نشته چې د قاديانيانو پر ضد په دې تحريک کې چې کومو حضراتو هم ونډه اخيستې، د هغوی نيت ښه و او د هغوی مقصد د قاديانيت فتنه لمنځه وړل و، خو دلته هم د دې نظام چلونکو مکارو کارمندانو او طاغوتي مشرانو علماء کرامو ته د دوکې ورکولو کوښښ وکړ او د قاديانيانو د بچ کولو لپاره يې خپل شيطاني ذهن وکاروو.
دلته له هر لوستونکي او با احساسه مؤمن مسلمان ځوان سره دا يوه پوښتنه او اندېښنه پيدا کېږي چې آيا قاديانيان د اسلام له نظره اصلي کافران دي، مرتد دي او يا هم زنديق؟
د علم خاوندان پوهېږي چې په اسلام کې ادا درې واړه اصطلاحات د جلاجلا مفهومونو لپاره استعمالېږي او د درې واړو حکم هم د يو بل نه مختلف او جلا دی، قاديانې خو اصلي کافر هم ندی، ځکه چې هغه له اوله ځانته مسلمان ويل

مرتد ځکه ندی چې هغه د کفر کولو باوجود ځانته کافر نه دي ويلي بلکې د خپلو باطلو نظرياتو سره سره خپل ځان مسلمان په ثابتولو باندې کلک ولاړ و، نو ځکه په دوی باندې د زنديق تعريف برابر راځي. اوس پوښتنه دا ده چې په شريعت مطهره کې د زنديق څه حکم دی؟ د ټولو علماء کرامو په وينا د دوی دا حکم دی که د ګرفتارولو نه مخکې دوی توبه وکړي نو توبه يې قبوله ده، ګنې د ګرفتارۍ او نېول کېدو نه وروسته د دوی حکم فقط قتلول دي، توبه به يې نشي منل کېدای، مګر دلته قاديانيان کافران اعلان شول او د ذميانو په څېر ورته حيثيت ورکړل شو او د دوی ژوند او ملکيت ته د دولت ساتنه ورکړل شوه.
ګنې شرعي حکم خو دا و چې لومړی به دوی ته د قادياني عقيدې څخه د توبې کولو امر کېږي. چې دوی توبه وباسي او ريښتيني مسلمانان شي، که نه نو دوی به وژل کېږي، دوی په قاديانيت کې ساتل او بيا دوی ته دولتي او قانوني محافظت چمتو کول د هغوی د زنديقيت سره د موافقې کولو په څېر دي، ګنې د امت اجماع دا ده چې د رحمت العالمين، خاتم النبيين حضرت محمد ګستاخ واجب القتل دی، که څوک د اسلامي دولت له اجازې پرته هغه ووژني، په هغه باندې هيڅ الزام او جرم نشته، اوس په خلاص او سره سينه

فکر وکړئ چې هغه ټولګی (ډله) چې شرعي حکم
یې دا و، چې د دوی ځان او مال د مسلمانانو لپاره
مباح دي، او که کوم مسلمان دوی د حکومت له
اجازې پرته ووژني او مال یې لوټ کړي، نو شرعاً
پرې هیڅ جرم نشته، خو اوس د دې طبقې ځان
او مال ته درناوی کېږي، د دوی ساتنه د دولت
لپاره فرض ګرځېدلې، که څه هم قادیانیان لاهم
پخپل زندیقیت او الحاد قائم دي، په کوم چې
مخکې ولاړ وو، د دوی عبادت ځایونه له پخوا نه
اوس ډېر دي، د دوی تبلیغ له مخکې څخه اوس
ښه پراخ دی.

نو پدې اړه فکر وکړئ چې له قادیانیانو سره
ښه شوي که بد؟ دا خو تاسو یوې ډلې ته دولتي
محافظت (سرکاري ګارډ) ورکړ، هغه چې په هیڅ
ډول شرایطو یې په دې هېواد کې د پاتې کېدو
اجازه نلرله، دوی د اصلي کافرانو څخه بدتر دي،
ځکه چې اصلي کافران چې ذمیان شي نو په یو
اسلامي هېواد کې ژوند کولای شي، مګر ملحد،
زندیق او مرتد پکې نشي اوسېدلای، خو بیا هم
دوی د نورو په څېر د دولت په چارو کې داخل دي،
که چېرته داسې وویل شي، چې مخکې قادیانیان
مرتد وو او اوس د دوی اولاد د کافرِ اصلي تر حکم
لاندې دی، نو دا نظریه په بشپړ ډول غلطه ده.
قادیانیان نه مخکې مرتد وو او نه هم اوس کافر
اصلي دي، د شریعت په رڼا کې دوی پرون هم
زنادقه وو او نن هم زنادقه دي، دا باید په یاد
وساتل شي چې کله د محمد په مینه کې مستو او
سرشاره مجاهدینو په لاهور کې د قادیانیانو په
مرکز برید وکړ، نو ځینو خلکو دا برید غندلی او
ویلي یې دي: چې قادیانیان کافران اعلان شوي،
نو اوس دوی ذمیان دي. تر دې چې بعضي د علم
بار اوچتونکو داسې هم وویل چې قیامت کې به
رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم د قادیانیانو
سره ودرېږي (نعوذ باللّٰه، نقل کفر کفر نه
باشد).

ګني ټولو علماء کرامو ته معلومه ده چې
قادیانیان زندیق دي، او زندیق ذمي نشي
جوړېدای، نو ځکه چا چې په رسول اللّٰه صلی اللّٰه
علیه وسلم دومره لوی بهتان وتړلو، چې خاتم
النبیین به د قیامت په ورځ د هغې لعنتي طبقې
سره ودرېږي، چا چې د ختم نبوت د عقیدې د
ټوټه ټوټه کولو کوښښ وکړ.

اقتباس: ادیان کی جنګ؛ دین اسلام یا دین
جمهوریت

مصنف: مولانا عاصم عمر رحمه اللّٰه

له پاکستان څخه د افغان کډوالو د اجباري ایستلو په اړه د تحریک طالبان پاکستان د محترم امیر مفتي ابو منصور عاصم (نور ولي محسود) حفظه اللّٰه د وینا متن

بسم اللّٰه الرحمن الرحیم

الحمد للّٰه، والصلاة و السلام علی رسول اللّٰه، وعلی آله وصحبه و من والاه.

اما بعد: فاعوذ باللّٰه من الشیطان الرجیم، بسم اللّٰه الرحمن الرحیم، إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ، وقال النبي صلی اللّٰه علیه وسلم: الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ لَا يَظْلِمُهُ وَلَا يَخْذُلُهُ وَلَا يَحْقِرُهُ.

محترمو هېوادوالو! او خصوصاً په پښتون او افغان وطن کې اباد لر او بر افغانانو او پښتنو!

السلام علیکم ورحمة اللّٰه وبرکاته !

محترمو وروڼو! په دې یوه خبره د اللّٰه سبحانه وتعالی ډېر شکر دی چې پښتانه من حیث القوم په دین او اسلام باندې مئین قوم دی، په طول د تاریخ کې یې د اسلام او دیني مقدساتو سره وفاداري کړې، همېشه یې د جهاد او غزا میدان کرم ساتلی، د علماء کرامو، دینداره خلقو او روحانیونو قیادت او رهبری ته یې ترجیح ورکړې ده.

نن مونږ کورو چې ټوله نړۍ د مغربي تهذیب او طرز معاشرت نه نهایتِ متأثره ده، او انساني فطرت یې دومره خراب شوی چې د دغه حیواني او غیر انساني تهذیب او طرز معاشرت په خپلولو هیڅ عار او شرم نه محسوسوي، بلکې فخر وربانډې کوي، خو

الحمدللّٰه د شکر مقام دی چې مونږه من حیث القوم تر کافي حده پورې د خپلو دیني اقدارو، اناناتو، روایاتو او تهذیب ساتنه او تحفظ کړی، دا زمونږ او ستاسو فریضه جوړېږي چې مونږ او تاسو دغه مبارک او مقدس د حیا او پردې نه ډک دیني او غیرتي روایات، اقدار او انانات خپل آینده نسلونو ته منتقل کړو. هر عقلمند او آزاد مسلمان پښتون په دې خبره ښه پوهېږي چې د تیرې یوې صدۍ نه چې پښتانه زورول کېږي، وژل کېږي، او د مختلف النوع مظالمو ښکار دي، د دې اصل وجه د پښتنو د دین او اسلام سره محبت او په خپلو دیني او مذهبي اَقدارو باندې کلک پاتې کېدل دي.

د پښتنو وطن چې فرنګي استعمار په دوه درې ټکړو (برخو) تقسیم کړی، د دې اصلي علت هم دا دی چې دا یو اسلام پاله، غازي او مجاهد قوم دی، او همېشه یې په یو آواز سره هر اسلام دښمنه قوت ته د علماوو او روحانیونو په قیادت کې بدترین شکست ورکړی، نو د دې لپاره فرنګي سامراج تقسیم کړو، چې قوت یې تقسیم شي، او اسلام دښمنه قوتونه وکولای شي چې د اسلام په ځای د بل کوم لادینه فکر او تهذیب لاندې یې راولي، او نعوذ باللّٰه د دین، مذهب، علماء کرامو، جهاد او غزا سره یې نسبت

ختم شي، خو الحمد للّٰه د یوې صدۍ د مختلف النوع کوښښونو باوجود اسلام دښمنه قوتونه په خپل دغه مشن (هدف) کې ناکامه دي، او کامیاب نه شول چې مونږ د دین، مذهب او علماء کرامو څخه وشلوي (بېل کړي). او الحمدللّٰه مونږ په یوه صدۍ کې د علماءِ حق په رهبرۍ (قیادت) کې درې عالمي اسلام دښمنه قوتونو ته شکست ورکړو.

محترمو ورونو! لکه څرنګه چې تاسو ته معلومه ده چې د پاکستان ظالم او غلام فوج زمونږه او ستاسو په دین عزت او ناموس باندې حمله کړې، او مونږ او تاسو نه پرېږدي چې د خپلو دیني او مذهبي اقدارو مطابق د خپلې معاشرې تشکیل وکړو، خو مونږه په دې یقین یو، چې لکه څرنګه د دغه غلام فوج بادار په دغه غیرتي او غازي وطن کې شکست خوړلی و، دغه شان به دغه تور، غلام دښمن هم شکست خوري. إن شاء اللّٰه تعالی

محترمو ورونو! مونږ او تاسو ګورو چې په دا وروستیو کې د پاکستان غلام او ظالمي عسکري ادارې افغاني مهاجر ورونه زوروي او بندیانوي یې، او نور مختلف قسم تکالیف ورته رسوي، او په آخر کې یې دا اخطار ورته هم ورکړ، چې د یکم نومبر پورې تاسو ټول واپس خپل وطن ته لاړ شئ، ورنه (ګنې) بیا به جبراً او په زور سره واپس کېږئ.(انا للّٰه وانا الیه راجعون) مونږه په کلکو ټکو دغه وحشت، ظلم او بربریت غندو او مذمت یې کوو.

مونږه افغاني ورونه په دې معنا مهاجر نه منو، چې ګواکې هغوی کوم بل هېواد ته هجرت کړی، بلکې هغوی په خپل وطن کې د یو ځای نه بل ځای ته د دین او وطن د بچاؤ (ساتنې) په خاطر هجرت کړی دی.

او بله خبره دا، چې پښتانه چې څنګه ډیورنډ نه مني دغه شان د پښتنو په سینه راښکل شوې د ډیورنډ فرضي او کرغېړنه کرښه او سرحد هم نه مني، د امو د سیند نه واخله تر اباسینه او اټکه پورې د پښتنو د پلار نیکه وطن دی، او د دې پټې خزانې او وسائل د پښتنو او افغانانو ملکیت دی، او هم دوی د دغه مبارک او پاک وطن مالکان دي، چې هیڅ یو آزاد، پښتون او افغان مسلمان د دغه دعوې نه کله هم نشي تېرېدلای.

مونږ د پاکستان په ټولو مسلمانانو عموماً او په پښتنو خصوصاً غږ کوو، چې د خپلو افغاني ورونو سره ودرېږئ، د درې وجو (لاملونو) نه د دوی نصرت او مدد په مونږ لازم دی:

۱_ یو دا چې افغانان مسلمانان دي، یعني زمونږ او ستاسو د کلمې ورونه دي، او قرآن کریم کې اللّٰه سبحانه وتعالی فرمایي: « انما المؤمنون إخوة» یانې، چې مسلمانان په خپلو کې سره ورونه دي. او نبي کریم علیه الصلاة و السلام هم فرمایي: (الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ لَا يَظْلِمُهُ وَلَا يَخْذُلُهُ) چې مسلمان د مسلمان ورور دی، په خپله به ورته هم نقصان نه رسوي، او د بل چا ظلم ته به یې هم نه پرېږدي. نو دا زمونږ او ستاسو دیني فریضه جوړېږي چې د افغانانو په شمول هیڅ یو مسلمان د یو ظالم مخې ته بې یار او مدد ګار پرې نږدو.

۲_ دویم دا چې افغانان زمونږه او ستاسو د وینې او د ریشتې ورونه هم دي، او د پښتنو روایات دا دي چې د ظالم دښمن په مقابله کې د خپل ورور او عزیز سره ښه په کلکه ودرېږي.

۳_ دریم دا چې دا زمونږه او ستاسو میلمانه دي، او د پښتنو روایات دا دي چې په هر قیمت سره د خپل

میلمه څخه دفاع کوي، هغه د یو چا بیعزتی ته نه پرېږدي.

د پاکستان ریاست د خپل غیر طبعي وفاق لپاره ګاونډي ملکونه او بالخصوص افغانستان بې ثباته او غیر مستحکم کول لازمي ګڼي، په دې وجه په دغه دوکه باز ریاست هیڅ یو ګاونډي اعتبار نه کوي، بې ثباته، مجبوره او په جنګونو کې ښکېل افغانستان د پاکستان د ظالمو او غلامو عسکري ادارو بنیادي پالیسي ده، چې په هیڅ صورت یې نه پرېږدي، د پاکستان ریاست او عسکري اداري په هیڅ صورت په افغانستان کې استحکام نه غواړي، نه په اسلامي شکل کې او نه هم په غیر اسلامي شکل کې، اوس یې چې په مختلفو محاذونو او چینلو باندې د افغانستان د اسلامي امارت (أعزها اللّٰه) خلاف کوم فعالیت او سرګرمیانې شروع کړي دي، اصل وجه هم دا ده چې افغانستان د خپلو اصلي مالکانو، حق پرسته علماء کرامو په قیادت او رهبرۍ کې ستحکام او ثبات طرف ته پیښرفت شروع کړی، او په پاکستان باندې غلامه مسلطه کړی شوې طبقه د دغه شان حالت جریان د خپل ځان لپاره مرګ ګڼي، مونږ په خپل غیرتمند او دینداره اولس باندې غږ کوو، چې د اهل حق علماء کرامو په قیادت او رهبرۍ کې راپاڅۍ، متحد شئ، او دغه پاکه خاوره د دغه تور دښمن څخه ازاده کړئ، او دغه تور دښمن نور مه پرېږدئ چې زمونږه او ستاسو د ویاړونو وطن افغانستان ته بیا کوم مشکل جوړ کړي، دا د ټولو حقاني علماء کرامو، متدینه اولسونو او اهل بصیرت سیاستوالو او قومي مشرانو فریضه جوړېږي.

د پاکستان د عسکري ادارو او غلام رژیم د دغه ظلم سره همکاره کېدل او یا وربانديې خاموشه پاته کېدل ستر دیني او ملي خیانت دی، مونږه هر هغه جهت ته د یو بدترین دښمن په نظر ګورو چې په دغه پروژه کې د دغه کرایه دار غلام فوځ سره همکاري کوي، او د دغې پروژې حصه جوړېږي.

په دغه خطه (سیمه) کې چې مسلمان قومونه او ملتونه د کومو مشکلاتو سره مخ دي د دغه بنیادي او اساسي وجه د فرنګي جوړکړی او غلام د کرایه فوج دی، د دغه قومونو په پټو خزانو او وسائلو باندې د دغه اسلام دښمنه فوج قبضه ده.

تحریک طالبان پاکستان د پاکستان ټولو مسلمان قومونو او ملتونو ته دعوت ورکوي چې د دغه غلام او قابض فوج علاج او حل مقدس جهاد دی، په دغه مبارک او مقدس جهاد کې د تحریک د مجاهدینو سره ملګري شئ، او د اسلام په رڼا کې د خپل دین، مال، جان، عزت او وسائلو تحفظ او دفاع وکړئ، او دغه ملک چې د کوم مقصد لپاره وجود ته راغلی و، هغه مقصد ته لاره همواره کړئ.

د پاکستان طاغوتي نظام د زوال په درشل کې

لیکوال: ابو عمر اظهر

که څه هم د پاکستان له رامنځته کېدو وروسته داسې ګڼل کېده، چې د دې نوي تشکیل شوي هېواد نظام به لږ تر لږه په خپله ځمکه الهي قانون او شرعي نظام پلي کړي، ځکه خو یې د پلازمېنې نوم هم «اسلام آباد» اېښودل شوی و، خو له څه باندې شپږلسیزو تر اوسه اسلامي امت، خصوصاً د پاکستان مؤمن ملت د اسلامي نظام څرک لا و نه لید، بلکې برعکس ډېری وختونه یې طاغوتي واکمنانو د اسلام او اسلام پالو په خلاف په ځرکنده دریځ نیولی او دا لړۍ تر نن ورځې پورې روانه ده.

د بېلګې په توګه، په ۲۰۰۷ زېږدیز کال د اسلام آباد په جامعه حفصه مدرسې او لال مسجد د ایمان پلورونکو ګوډاګي پوځیانو وسله وال برید، چې په پایله کې یې د بد امنۍ او ترهګرۍ د مخنیوي په جرم زرګونه مؤمنې او پتمنې معصومې انجونې او دیني او د نبوي علومو زده کوونکې په شهادت ورسول شوې او په سلګونو انجونې او پتمنې خویندې لا هم نادرکې دي، د امریکا د خوشحالولو لپاره یې د شمالي او جنوبي وزیرستان، سوات، باجوړ، دیر، خیبر او نورو سوموڅ کلي او بازارونه، مسجدونه او مدرسې بلکې هر دېوال لوټې لوټې او د اسلامي نظام د نفاذ او دفاع په جرم یې د هېواد په بېلابېلو سیمو کې لسګونه زره عام مسلمانان او علماء کرام په شهادت ورسول، او د ډاکټر عافیه صدیقي خور په ګډون په سلهاوو عرب او عجم مجاهدین یې د څو ډالرو په بدل په امریکا وپلورل.

دا او دې ته ورته نور بې شمېره جنایتونه یې د اسلام، هېواد او ناموس په خلاف ترسره کړل او لا یې هم ترسره کوي.

دا چې د پاکستان ملت یو مؤمن، جهاد پال او اسلامپال ملت دی، او د اسلام، ناموس او خپلې مشروعې آزادۍ په خلاف یې ورځ تر بلې زیاتېدونکی جنایات ونشو زغملای؛ نو ویښو، با احساسه او په ایماني جذبو مستو او سرشاره ځوانانو یې په مسلحانه په جهاد (قتال في سبیل اللّٰه) لاس پورې کړ، چې للّٰه الحمد اوس یې د مرمیو کړسار او د مبارکو معرکو تودې او خونړۍ لمبې د هېواد ستراتیژیکو سیمو او د مهمو مراکزو څنډو ته رسېدلي دي.

هو؛ څه موده مخکې د کراچۍ په ترټولو خوندي سیمه کې د پولیسو په عمومي مرکز د همدې مبارکې لړۍ په صلیبپال پوځ استشهادي ګذارونو او اوس د چترال بریدونو دا وښوده، چې د پاکستان ملت مجاهدین په هر ځای کې استقبال کړل، او اوس دښمن هم باید درک کړي وي، چې پرمختللې وسلې او آن اتوم هم نشي کولای، چې د اللّٰه عزوجل د نصرت مخه ونیسي؛ نو لیرې نه ده، چې دا کفر پال او اسلام ضد نظام را نسکور او اسلام آباد کې هم د توحید بیرغ رپاند شي.

إن شاء اللّٰه العزیز

اوس مو ګاونډیان ډېر بې ضمیره شوي دي!

لیکوال: نور الهدی خلیل

د زندګۍ یو اصل داسې دی چې ته په خپلو کارونو او ورځنیو چارو کې تر دې حده مصروف شوی یې، چې د نورو خلکو کارونه، مصروفیتونه او مشکلات داسې تخیل کوې، لکه څنګه چې ستا د طبیعت مطابق مخته روان وي، اوس زندګي د پخوا په شان نده، ته اوس له هغو ستونزو نه بې خبر چې نن سبا کړېدلي مسلمانان د بې دینه کفارو له خوا ورسره مخ شوي دي، هره ورځ کړېږي او دردېږي، چغې او نعرې وهي، همېش رب العالمین ته دا دعا کوي: چې اې زمونږ ربه مونږ ته زمونږ مرستندوی راولېږه، دا داسې زوروې کړیکې دي چې آن د اسمان ملکې یې په حال دردېږي، مګر په ګاونډ کې په نس ماړه، عیاش او د ایمان په سودا مست چې د حیوانیت حد یې هم مات کړی (ان حیوانات یې هم له عملونو څخه شرمېږي) داسې نشه شوي دي چې زړونو یې هغه احساس له لاسه ورکړی چې د یو مسلمان په زړه کې باید موجود وي، وجدان او ضمیر یې په داسې شکل وژل شوي چې د بېرته ژوندي کېدو هیڅ تمه نشي ترې کېدلای، دوی د ایمان سودا په داسې عام شکل باندې کوي چې د ډېر افتخار له امله یې نور مسلمانان په دې شکې کړي چې آیا د اسلام اساس داسې و؟ او که مونږ لوستې او اورېدلې کیسې ټولې دروغ دي؟!

تاسو دوی پیژنئ؟ دوی هغه عربان دي چې د ډېر مال او دنیا له امله په داسې یوه درجه کې واقع شوي چې نړدې د نړۍ هر انسان ورته خپل غلام ښکاري، دوی د هالیوډ او بالیووډ د سینما ستورو (ډمانو) تر داسې حد پورې په دنیوي نشه او رقابتونو کې ډوب کړي چې خپل ځانونه، فکرونه او هغه نږدې همسایه ورونه چې یو وخت درد مو یو درد او خوښي مو یوه خوښي ګڼل کېدله، نن یې د دفاع په ځای په هغوی تیرې کوونکو سره د دوستۍ تړونونه کېږي، د هغوی لپاره په خپله خاوره یا سیمه کې د فحاشۍ مرکزونه جوړېږي، په رسمي شکل تجارتونه ورسره کېږي.

عربي جزیره نن داسې د غلامۍ په خوب ویده شوې لکه دې خاورې چې هیڅ هم نه درلودل، د عربي نړۍ په سینه کې پراته نومیالیان، اتلان او غیرتي خلک یې هیڅ احساس نه راپورته کوي، نن د عربي جزیرې په سطحه داسې ایمان پلورنکې واکمنان شوي چې د دې سیمې د هر نومیالي او قهرمان کارنامې چیلنجوي، نه یوازې د عربي نړۍ بلکې د ټولې اسلامي نړۍ پر وړاندې ستر ستر چیلنجونه رامنځته کوي.

زمونږ مظلومو ورونو! هغه عربان چې د یوې مسلمانې خور د عفت لپاره یې د هند د راجه ګانو حکمرانۍ درې ورې کړه، هغوی اوس نشته، تاسې اوس د داسې دوست او دښمن ترمنځ ګېر یاست چې په اصل کې مو دوستان له دښمنانو زیات بې ضمیره او بې وجدانه دي، مګر تاسو باید خپلې حوصلې ونه بایلئ، د یحیی و زکریا علیهما السلام په شان تر هغو مقابله وکړئ چې یا مو د خراسان له خاورې د ورونو مرسته نه وي در رسېدلې او یا مو له خپل رب سره کړې وعده نه وي پوره کړې، اقصی زمونږ د اغزن مزل وروستۍ پړاو دی. بإذن اللّٰه

د استشهاد له منارو د دیدار تر تلوسو!

(دریمه برخه)

لیکوال: سیف الدین هلال

کله چې صلاح الدین د دوهم ځل لپاره د لوښو وږلو ته راغی، له راتلو سره یې سم پورته شوم، ویل خیر دی څه کوې؟ ما ویل زه به ولاړ شم کور ته او...

نور مې پر ژبه الفاظ وچ شول، زړه مې دړزا شروع کړه، نه پوهېدم، په کومه بهانه اجازه واخلم، ډېر فکر مې وکړ، آخر صلاح الدین راته وویل، چې لږ صبر شه، زه دا پتنوس یوسم بېرته راځم، لېږکار مې دی درسره، بېرته پر ځای کېناستم، فکر مې وکړ څه کار به یې راسره وي، کېدای شي ما ته څه تحفه ولري، یا هم کوم مهم راز راته ووایي، ...

زه په همدې فکرونو کې ډوب وم چې په زینو کې د صلاح الدین د پښو ټکا شوه، چې څنګه راغی په کلماتو پوره سلام یې وکړ، صلاح الدین کې یو عادت ډېر عجیبه و، هغه دا چې هر ځل به چې راسره مخ کېده نو د سلام به یې ټول کلمات لوستل داسې چې: السلام علیکم ورحمة اللّٰه وبرکاته.

ما به هم هر ځل وعلیکم السلام پورې ځواب ورکړ نور به مې په زړه کې پټ تکراررول، تر سلام وروسته راغی او زما تر څنګ کېناست،

له کېناستو سره سم مې پوښتنه ترې وکړه: ګوره صلاح الدینه، زه ستا په حالاتو پوهېږم، خو زما په زړه کې یوه پوښتنه را ګرځي، راځه له پلار جان سره دې جهاد کوه، تر اوسه دې لا عمر هم کم دی، چې ښه ډېر جهاد دې وکړ بیا به فدایي وکړې.

زما پوښتنې او مشورې خوند ورنکړ، رنګ یې سور واوښت او تلولی غوندې شو، ویل ګرانه!

ستا په ذهن کې به ډېر نور فکرونه هم ګرځي را ګرځي، مګر زه به تا ته یوه خبر وکم، هغه دا چې: ما چې کومه لار انتخاب کړې دا یوازې تلل لري، بېرته راتلل امکان نلري، دا لار یوازې هدف ته تللې، دا د ریښتینو او مېړنیو خلکو لار ده، کله چې څوک دا لار انتخابوي نو د بېرته را ګرځېدو فکر یې نه کوي.

انسه!
کله چې د شپې په زړه کې راپورته شي او په اوښلنو سترګو له خپل رب سره وعده وکړي، نو بیا به په کومو سترګو له خپلې وعدې څخه په شا کېږو.
ته دا ومنه چې: استشهاد یوه ډېره نازکه لار ده، په دې لاره ایښي ګلونه او اغزي ډېر حساس دي، په دې لاره تګ یوازې د اللّٰه فضل غواړي.
ګوره ګرانه! د دې لارې اسرار او کیفیات په ژبه نه لوستل کېږي، د دنیا په علومو کې یې د کمال اندازه نه ده لیکل شوې، هېڅوک نه پوهېږي چې د خدای په لاره تلونکي دا غازیان کومې خوښۍ لیونی کړي دي. زه دا نه وایم چې زه ښه سړی یم، یا پر نورو فضیلت لرم، نه هیڅکله داسې نه ده.
"دا لار د محبوب تر وصاله تللې، کله چې محبت وروستي پړاو ته ورسېږي، بیا د وصال شمعې بلې شي، بیا بدن د محبوب پر مینه لکه پتنګ د ټوټه ټوټه کېدو لپاره ځان تیاروي، وینه مستانه رنګ غوره کړي، زړه د محبت له دریڅو خړوبه شي، ټول بدن د وصال په لاره منډې وهي، د دنیا خلک به دې لیونی او ناپوه بولي، مګر ستا په حالت به یوازې او یوازې ته او ستا رب پوهېږي بس"
کله به چې صلاح الدین غږېده، تا به ویل چې د دې لارې ډېر پوخ شاګرد پاتې شوی، لکه د لویو لویو متصوفینو، د محبت هره غوټه یې په ډېره اسانۍ سره خلاصوله او د هرې باریکۍ څخه به یې پرده پورته کوله.
هوکې! له صلاح الدین سره مخ کېدل د اللّٰه لویه پیرزوینه وه، پخوا به مو یوازې لمونځ اودس کولو، مګر تر دې وروسته مې د اللّٰه د محبت په لوری سترګې غړولې. که د صلاح الدین درانه الفاظ نه وای، ما به نو چېرته د محبت دا درسونه لوستل، تاسو ته هم زما همدا توصیه ده، هغوی چې د محبت داستانونه لولي یو ځل یې وګورئ چې د عشق اورونو لیوني کړي دي کنااا، د محبت په سمندر کې یې لامبو وهلې او یوازې د اوبو له شور او د څپو له ښایسته خبرې کوې. د خدای د لارې محبین، یوازې همدا د امت غشي دي چې تر وصاله رسېدلو ته ناقرار دي. صلاح الدین د وخت له کوم لوی عالم څخه زده کړې نه وې کړې، نه یې هم په کتابونو ځان ستړی کړی و. بلکې کله به دې چې د صلاح الدین معصومې څېرې ته وکتل ستا ټولې پوښتنې به ځواب شوې، د محبوب حقیقي ستاینې کلمات د استشهاد په لاره کرل شوي، کله چې حقیقي مینه زړه ته ښکته شي بیا نو زړه د وینې پر ځای ټول بدن ته محبت رسوي، د بدن هره برخه د محبوب وصال ته شېبې شماري، همدا وخت وي چې انسان د خپل معراج په وروستي پړاو قدم ږدي. کله به مې ذهن ته راغلل هسې نه چې داسې څه واورم چې زه یې ور نه یم، خو چې صلاح الدین به غږېده زما زړه به یو ډول آرام و، زه په همدې کې وم چې نرم یې وویل:
انسه! که مونږ ځانونه د امت ځوانان بولو بیا خو پکار ده چې په ټولې نړۍ د مؤمنانو غم راسره وي، د اسلام هره لور خپله سکه خور وګڼو، هر بندي د کورنۍ غړی او هر مظلوم د څنګ ملګری وبولو.
انسه! په ټوله نړۍ کې دوه میلیارده مسلمانان دي، خو ته پوهېږې؟
په دې دوه میلیارده مسلمانانو کې په شمېر دوه یا درې لکه مجاهدین دي، د دنیا ټول کفار چې له مسلمانانو څخه په زړونو کې ډار لري، علت یې همدغه کم شمېر مجاهدین دي. مونږ یوازې له امریکا او ناټو سره نه یو مخامخ، بلکې مونږ له ټولو هغو سره په مقابله کې یو چې بغیر له اللّٰه څخه د

بل شي عبادت کوي. مونږ د نړۍ له ټولو هغو ملحدينو او کمونسټانو سره په مقابله کې يو چې ټول عمر يې زمونږ د دين دښمني ته وقف کړی.

انسه، زما وروره، زما قدرمنه!

زما په خبرو خفه نه شې، کفارو پر مونږ د تمسخر لپاره خپلې ځوانې انجونې زمونږ مقابلې ته رالېږلې دي. د صلاح الدين بحث ورو ورو ډېرېده، پر تندي يې نرمه خوله را ماته شوه، د بحث په منځ کې به يې يو ناڅاپه په خوله خندا راغله، داسې چې تا به ويل ګويا صلاح الدين کوم پټ اسرار ويني..! کله به له غوسې او قهر څخه سور واوښت، هغه صلاح الدين چې د شفقت او مهربانۍ يو سمبول و، د مسلمانانو د حالت له بيانولو سره به يې د شهادت ګوته پورته کړه، او په خبرو خبرو کې به يې وويل: کاش يو ځل بيا مسلمانان غالبه شي، کاش ځوانان د غفلت خوبونه پرېږدي، کفار شپه او ورځ زمونږ په خلاف په تيارۍ بوخت دي مګر مونږ د امت له درده نه ځورېږو، مونږ د خپلو نيکونو پر پلونو تک هېر کړی دی. مونږ څکه ذليله او خوار شوو چې يوازې خپلو دردونو ته سلګۍ وهو، عجيبه وه!

يو ځل يې په خبرو کې ساه بنده بنده شوه، زړه يې درزا شروع کړه، او ژبه يې وچه شوه، رنګ يې سور واوښت، چې سترګې يې را پورته کړې له اوښکو ښې پوره ډکې وې، تکې سرې اوښتې وې، داسې لکه د اور شغلو چې وهلې وي، ځان ته مې غوصه راغله چې ظالمه ولې دا د غم داستانونه پرې وايې.

پر تندي يې خولې را ماتې شوې، تبه يې ورو ورو ډېرېده، سر يې په زنګون کېښود او سلګو واخيست. خدای شته، زه يې هم فکرمند کړم، ما ويل هسې نه چې ما په تکليف کړی وي، لږ ساعت ناست و، وروسته يې سر راپورته کړ، سترګې يې هماغسې له اوښکو ډکې وې، په سلګيو شو، ويل انسه!

که مونږ رب ته ورشو او د مسلمانانو د احوال پوښتنه راڅخه وکړي مونږ به څه ځواب ولرو؟ اللّٰه به وايي چې څنګه په نعمتونو پوره بدن مې درکړی و، تا زما د دين لپاره څه وکړل؟ هغه ساعت چې پر ژبه مهر ووهل شي او هر اندام ځان ځان ته حال وايي، بيا به نو د رب العالمين د دې پوښتنې ځواب څنګه وي؟ په کومو سترګو به د جنت تمنا کوو، په کومو سترګو به د حوض کوثر په سر د جانان ليدل غواړو، په کومو سترګو به له خپلو شهيدانو ملګرو سره مخ کېږو؟ زما هم هېدونه ځېږه شول، د صلاح الدين خبرو مې فکر د دنيا ګوټ ګوټ ته يوور، هر ځای به يوې مظلومې د عفت د ساتلو چغې او نارې وهلې، ما به چې لاس ور وغځاوو، په زنځيرو به تړلې وم، دا ځنځيرونه د ضمير هغه عذابونه وو چې څو کلونه مې ځان د غفلت په خوبونو غلط کړی و.

لږ ساعت به نه و تېر چې د ميلمه خونې (حجرې) دروازه د کور لخوا چا په کوچنۍ ډبره ووېشته، صلاح الدين ځان سره سمبال کړ، مخ ته يې اوبه واچولې ما هم ځان را ټول کړ، صلاح الدين پر تندي خپل دسمال تېر کړ، جامې يې وڅنډلې، په سترګو يې لاسوروالی پروت و، له څنګه يې غلې را وکتل ويل بېرته ژر راځم، دروازه يې ورو خلاصه کړه، لږ ساعت وروسته يې د قدمونو ږغ ورک شو، ښه ساعت تېر شو، ټليفون مې سايلنټ (خاموش) کړی و، ناڅاپي مې ورته پام شو، چې ومې کوت د پلار څو زنګونه راغلي وو، ژر مې نمبر اوکې کړ، تر سلام وروسته يې راته وويل: انسه! مريض اوس څنګه دی؟ ما ويل: اوس ښه دی پلار جانه! ويل چې تر څو ښه شوی نه وي تر هغو ورسره اوسه، معلم صمد ته مې زنګ (ټيليفون) کړی و چې انس نن نشي درتلای، هغه هم ډاډه کړم چې مشکل نشته. إن شاء اللّٰه

تر دوه دريو کليمو وروسته يې ټليفون قطع شو، زړه مې ډاډه شو، څکه پلار مې خامخا..........ادامه لري

د حضرت عمر ابن الخطاب رضي اللّه تعالی عنه د زنکدن شیبې

لیکوال:
جبران هاشمي

کله چې د اسلام دوهم خلیفه حضرت عمر رضي اللّه تعالی عنه په چړو ووهل شو، نو شیدې یې ورته راوړې، هغه یې وڅښلې، خو له پرهر یې راووتې، طبیب ورته وویل، اې امیر المؤمنینه! ژوندی نه پاتې کېږې، زوی یې راوغوښت، ورته یې وویل: حذیفه رضي اللّه عنه را وغواړه، هغه راغی، حذیفه رضي اللّه تعالی عنه هغه صحابي و، چې رسول اللّه صلی اللّه علیه وسلم د منافقینو د نومونو لیست ورکړی و او دا نومونه یواځې اللّه جل جلاله، د هغه رسول او حذیفه رضي اللّه عنه ته معلوم وو.
له پرهرونو یې وینې روانې دي، حذیفه رضي اللّه تعالی عنه ته وایي: اې حذیفه! زه تاته په اللّه قسم درکوم، آیا رسول اللّه د منافقینو په لیست کې زما نوم هم درته واخیست؟
حذیفه غلی شو، سترګې یې له اوښکو ډکې شوې، ورته یې وویل: عمره! ته د داسې یو مهم راز د ویلو غوښتنه را څخه کوې، چې زه هیڅکله نشم کولای هغه چاته ووایم.
بیا یې ورته وویل: د خدای پخاطر راته ووایه! آیا د دوی په منځ کې زما نوم هم رسول اللّه درته واخیست؟
حذیفه رضی اللّه عنه وژړل او ویې ویل: عمره! زه تاته وایم او بل هیچاته یې نه وایم، په خدای قسم! ستا نوم یې ماته نه دی ښودلی.
زوی ته یې وویل، اوس نو په دنیا کې یو کار پاتې دی، هغه ورته وویل: پلارجانه وایه! کوم کار؟
عمر رضي اللّه تعالی عنه ورته وویل: چې د رسول اللّه څنګ ته ښخ شم.
زویه! د مؤمنانو مور عایشې رضی اللّه عنها ته ور شه؛ خو پام داسې ورته ونه وایې، چې امیرالمؤمنین را لېږلی یم؛ بلکې ورته ووایه، چې عمر را لېږلی یم، ورته ووایه: چې ته د کور مالکه یې، که عمر ته اجازه ورکړې، چې د خپلو دوو ملګرو په پښو کې ښخ شي، عبداللّه په بیړه ورغی، خبره یې ورته وکړه، هغې ورته وویل: زما له طرفه اجازه ده، که څه هم دا قبر مې د ځان لپاره تیار کړی و؛ خو نن یې عمر رضی اللّه عنه ته پرېږدم. عبداللّه بېرته په خوشالۍ راستون شو، عمر ته یې وویل: پلار جانه! اجازه یې راکړه، پلار جان ته چې زیر شو؛ نو ډېر دردونکی حالت یې ولید، ګوري چې پلار یې مخ مبارک په خاورو ایښی دی، ژر کېناست او د هغه مخ مبارک یې خپل زنګون ته را پورته کړ.
عمر ورته وویل، ولې دې زما مخ له خاورو نه پورته کړ؟ عبداللّه ورته ویل، ای پلار جانه!
عمر ورته وویل: د پلار مخ دې په خاورو باندې ولګوه، ترڅو د هغه مخ په خاورو باندې خړ شي، ځکه عمر ته دا د افسوس ځای دی، چې صبا ورځ خپل رب ورته بخښنه نه وي کړې.
تر هغې وروسته وفات شو، چې عبداللّه بن عمر ته یې دا وصیت وکړ: کله چې زما جنازه یوسې

او د رسول اللّٰه په جومات کې يې کېږدي، نو ته حذيفه رضی اللّٰه عنه ته ګوره، ځکه کېدای شي هغه زما رعايت کړی وي او اصلي خبره يې نه وي راته کړې، خو که حذيفه رضی اللّٰه عنه د جنازې لمونځ را باندې وکړ؛ نو بيا ما د رسول اللّٰه کور ته يوسه، په دروازه کې ودرېږه او غږ وکړه: مورجانې! ستا زوی، عمر دی، دا به نه وايې، چې امير المؤمنين دی، که چيرته يې اجازه درکړه؛ نو هلته مې ښخ کړئ او که نه د مسلمانو هديرې ته مې يوسئ.

د جنازې کټ يې پورته کړ او نبوي جومات ته يې يوړ، کټ کېښودل شو، عبداللّٰه فکر کوي، وصيت يې ذهن کې دی، د زړه مراندې يې پرې شوې دي، ګوري چې حذيفه رضي اللّٰه عنه راغی او جنازې لمونځ يې ورباندې ادا کړ؛ عبداللّٰه خوشحاله شو، بيا يې د جنازې کټ پورته کړ او د عائشې د کور دروازې ته يې يوړ، عبداللّٰه ابن عمر ږغ کړ: مورې! ستا زوی عمر په دروازه کې دی، ايا اجازه ورکوې؟ هغې ورته وويل: اجازه ده، عمر يې دننه يووړ او په دې توګه امير المؤمنين عمر ابن الخطاب رضي اللّٰه عنه د خپلو دوو ملګرو (حضرت محمد مصطفی صلی اللّٰه عليه وسلم او ابوبکر صديق رضي اللّٰه تعالی عنه) سره نږدې ښخ شو.

خدای دې په عمر ابن الخطاب رحم وکړي، ځکه يې له عدل څخه ډکه کړه، سره له دې چې رسول اللّٰه د جنت زيری ورکړی و، خو بيا هم له خدای جل جلاله نه سخت وېرېده، البته نن زموږ څه حالت دی؟ بېخي څوک په دې فکر کې نه دي، چې آيا رب جل جلاله ترې راضي دی که نه؟ مزې وهو، خنداګانې دي، بې ځايه لوبې دي، مجلسونه دي، چکرونه دي، هر ځای بې ځايه مصرفونه دي، خپل فکر، قلم، ژبه، مال، وخت، ځواني او هر څه په چټياتو او اپلاتو باندې مصرفوو، بېخي په دې فکر او غم کې نه يو، چې له مرګ وروسته به زموږ سره څه کېږي؟

يا اللّٰه! خاتمې مو ښې کړه او د زنکدن په وخت کې مو په ايمان ثابت قدم ولره.

اې خدايه! هدايت راته وکړه، بيا هم موږ ته هدايت وکړه، بيا هم موږ ته هدايت وکړه او زموږ اولادونو ته هم هدايت وکړه، داسې هدايت، چې بيا هيڅکله بې لارې او بدبخته نه شو او هيڅکله ګمراه نه شو. آمين يارب العالمين

ژوندی اسلام!

ليکوال:
مولوي سعيد
الهاجر

له ژوندي اسلام څخه مو مقصد دا نه دی چې ګواکې اسلام هم د حيوان په څېر روح لري او په هغې ژوندی دی او که روح ترېنه واخيستل شي، نو به ومري.»العياذ بالله».

بلکې د اسلام ژوند يو ځانګړی کيف دی، له بده مرغه چې هغه ژوند د ډېرو انسانانو نه تر سترګو کېږي، چې هغه د اسلام د حاکميت او سرلوړي ژوند دی، کله چې د اسلام په لومړيو کې دينِ اسلام پخپل اصلي روح کې مسلمانانو وپېژندلو، نو اسلام ژوندی دين و، د خپل ځان څخه يې هر قسمه دفاع کوله، دښمنان او په وړاندې يې ولاړ ټول باطل اديان مړه وو.

هغه وخت د اسلام ژوند د اسلامي حاکميت ژوند و، د کله نه چې دغه ژوند ترېنه کفارو د خپلو غلامانو او د تش په نوم مسلمانانو په توسط واخيستل، اسلام هم لکه يو بې روحه مرغه شو، چې هر کارغه يې اوس په کور هجوم ور وړي، او مظلوم اسلام يې هيڅ د دفاع توان نلري.

اسلام به هله يو ځل بيا خپل پخواني عروج او تېر وياړلي برم ته ستنيږي، چې د دينِ اسلام متبعين هر هغه عوامل له منځه يوسي، چې د اسلام سپېڅلي حاکميت ته ترېنه خطر پيښ او متوجې دی، هغه که معاصر باطل جمهوري نظامونه دي او که د کفر نورې باطلې او شيطاني دسيسې او تدابير، ځکه چې د اسلام عروج او زوال د اسلامي نظام په حاکميت پورې تړلي دي، تاسې وګورئ کله چې اسلام حاکم و، د يوې مسلمانې زنانه په وا معتصما ږغ باندې د کفر برجونه نړېدل، سيمې يې د مسلمانانو له لوري فتحه کېدې، او اوس وخت کې چې د اسلام حاکميت نشته، د مسلمانانو په زرهاوو مسلمانې خويندې د وا معتصما زړه بوږنوونکې چغې او کريکې د کفر په زندانو کې پورته کوي، څوک يې د ږغ د اورېدلو نشته، چې د صليبي کفر او طواغيتو د زندانونو دا وحشي برجونه ور مات او پتمنې خويندې ورڅخه را آزادې کړي.

راځئ! محترمو مسلمانانو ورونو چې د اسلام د دبدبې، رعب او د تېر برم د بيا اعادې په پار سره يو شو، ځکه چې موږ يو امت يو، تور او سپين نه پېژنو، مګر د الولاء والبراء د عقيدې په اساس يې تلو، نو راځئ چې د هغو سرتېرو زلميو ملا ور وتړو چې د اسلامي نظام د حاکميت د قيام په پار يې خپلې کورنۍ، مال او ځان نذرانې ته وړاندې کړی، ما او تا بلکې ګرد اسلامي امت او راتلونکي نسل ته د اسلامي قانون د تنفيذ په ذريعه د امن او سوکالۍ خوبونه په رښتيني واقعيتونو بدلوي. بإذن الله

د يو واقعي، ريښتيني، مقدس او سپېڅلي ارمان مستند

ليکوال: گمنام سپاهي

هغه ارمان چې د ترلاسه کولو لپاره يې د امت په زرهاوو ځوانانو خپلې ښکلې او حسينې ځوانۍ قربان کړې او لولپه کړې!

هغه ارمان چې د حصول لپاره ډېرى ځوانان د اور بڅرکي شول!

هغه ارمان چې د تکميل په موخه يې د امت ډېرو ځوانانو د دنيوي رقابتونو پرځای د موټربم جيلب غوره کړ!

د شپې نهه بجې: د مهاجرينو يو ټولي له کابل څخه د کندهار په لور حرکت وکړ.

د شپې لس بجې: دوی کندهار ته ورسېدل او د اسلام د لوا او رايې تر بېرغ لاندې يې يوې ډلې انصارو تود هرکلی او استقبال وکړ.

د شپې لس بجې او دېرش دقيقې: مهاجرين د امير المؤمنين شيخ صاحب د لارښوونو په اساس د ځانګړو استشهادي ځواکونو له لوري يو ځانګړي ځای ته ولېږدول شول او هلته يې د انصارو له مشرانو سره وليدل.

د شپې يوولس بجې او دېرش دقيقې: اودسونه تازه شول او په کندهار کې د مېشت أمير المؤمنين شيخ صاحب په امامت د ماخوستن لمونځ ادا شو.

د شپې دولس بجې: د کندهار د اسمان تر ځلېدونکو ستورو لاندې او د اللّٰه د رحمت په منوره شوې فضا کې د عقبې د ترون صحنه ننداري ته وړاندې شوه او د اسمان ملايکو د وخت د سعد بن معاذ د اتلولۍ او شهکارۍ ننداره پېل کړه.

د سهار درې بجې: مجلس پای ته ورسېد، انصار او مهاجرين له اوښکو څخه په ډکو سترګو اللّٰه ته په سجده پرېوتل.

د سهار څلور بجې او دېرش دقيقې: د کندهار فضا د سهار د اذان ملکوتي تکبيرونو ونيوله او خلک د مسجدونو په لور روان شول.

د سهار شپږ بجې: د لمر وړانګو د معمول خلاف بې ساري ځلا کوله او نن يې روښنايي خورا تېزه وه.

د سهار شپږ بجې او دېرش دقيقې: ټول مجاهدين او نظامي ځواکونه د تيارسۍ په حال کې دي.

د سهار اووه بجې: د افغانستان پر محوريت په افغانستان کې د خلافت اعلان تر ټولو غوږونو ورسېد او دغه بې ساري اعلان د خلکو په غوږونو کې انګازې خورې کړې.

د سهار اته بجې: پر ټولو رسنيو بريکېنګ نيوز او بېړنۍ خبر چلېږي او هېڅ نړيواله رسنۍ عادي پروګرامونه نه لري.

د سهار اته بجې او دېرش دقيقې: په سپينه ماڼۍ کې د خبرونو د ښار ډلې د معمول خلاف ولسمشر له خوبه راپاڅاوه او هغه ته يې په افغانستان کې د خلافت د اعلان خبر ورکړ.

د سهار اته بجې او پنځه څلوېښت دقيقې: په سپينه ماڼۍ کې پر ولسمشر د خلافت اعلان لکه د تندر ګزار داسې تمام شوی، له وېرې يې سترګې ککرۍ ته ختلې او د لومړي ځل لپار يې په سپينه ماڼۍ کې لاره غلطه کړه.

د سهار نهه بجې: رسنيو خبر ورکړ، چې د اسلامي امت په ګوټ ګوټ کې په ميليونونو مسلمانان سړکونو ته راوتلي، د شکر سجدې يې کړې او د افغانستان په کندهار کې له اعلان شوي خلافت څخه يې خپل ملاتړ او بيعت څرګند او اعلان کړی.

د سهار لس بجې: په کندهار کې له خلیفه سره د بیعت کولو مراسم پېل شول او خبر ورکړل شو چې ډېر ژر به دا پروسه نورو سیمو او اسلامي امت ته پراخه شي. د سهار یوولس بجې: خلیفه امت ته خپله لومړۍ خطبه، چې پر بېلابېلو ژبو د امت د رسنیو له خوا خپرېده، واوروله.

د غرمې دولس نیمې بجې: د خلیفه د خطبې مهم ټکي «په دار الاسلام کې د دین اسلام بشپړ او انقلابي تطبیق، نړۍ ته یې د لېږد ژمنه او له امت څخه د وحدت او بیعت غوښتنه» د رسنیو د سرټکي دي.

د ماسپښین یوه نیمه بجه: تقریبا له سلو کلونو وروسته دخلیفه په امامت د ماسپښین لمونځ ادا شو. د ماسپښین دوه بجې: د امریکا ولسمشر له اروپایي ټولنې، روسیې او چین څخه د ملګرو ملتونو په ودانۍ کې د بېړنۍ غونډې غوښتنه کړې.

د ماښام اووه بجې: ولسمشران د ملګرو ملتونو ودانۍ ته ورسېدل او د معمول خلاف یې پر څېرو، وارخطایي، پرېشاني، او اندېښنه له ورایه ښکارېدې.

د ماښام اووه بجې او دېرش دقیقې: غونډه د بندو دروازو تر شا پېل شوه او دووه ساعتونو یې دوام وکړ.

د ماښام اته بجې: رسنیو خبر ورکړ چې د پاکستان په ټولو لویو ښارونو کې په لکونو خلک سړکونو ته راوتلي او له خپل دولت یې غوښتي چې له عمري خلافت سره یو ځای شي.

د شپې نهه بجې او دېرش دقیقې: د ملګرو ملتونو له ودانۍ د راټولو شویو مشرانو له خوا ګډه اعلامیه خپره شوه، په اعلامیه کې خلافت ته په ملګرو ملتونو کې د غړیتوب بلنه ورکړل شوې او د اعلامیې په یوه برخه کې خلافت کوابنل شوی او راغلي چې دوی هر څه له نیړدې څاري، که خلافت له نړیوالو اصولو او قوانینو سرغړونه وکړي، نو په ګډه به یې له منځه یوسي.

د سهار اووه بجې: رسنیو خبر ورکړ چې د خلافت د دولت د قتال او جهاد وزیر د ملګرو ملتونو وړاندیز رد کړی او ویلي دي چې دوی یوازې د اسلام په منلو یا د جزیې په ورکړې سره ځانونه خوندي کولای شي.

د غرمې دولس بجې: په ټول امت کې د خلافت د ملاتړ لپاره خلک واټونو او سړکونو ته راوتلي او له خپلو دولتونو غواړي چې له خلافت سره یو ځای شي.

د ماسپښین دوه بجې: په پاکستان کې حالت شېبه په شېبه خرابېدونکی دی او د پوځ د مشرانو ترمنځ اختلافونه راپورته شوي، یوه ډله یې په دې ټینګار کوي چې باید له خلافت سره یو ځای شي او زر تر زره له خلیفه سره بیعت وکړي، ترڅو وکولای شي چې د حالاتو په کابو کولو کې له خلافت سره مرسته وکړي.

د مازدیګر څلور بجې: د نړۍ مشرانو د دویم ځل لپاره د بېړنۍ غونډې پرېکړه کړې.

د شپې لس بجې: له کندهار څخه د انصارو او مهاجرینو ګډ پلاوي په نابېره توګه پاکستان ته پټ سفر پېل کړ.

د شپې دوولس بجې: د پاکستان حالات نظامي دي او خلک لا هم پر واټونو او سړکونو ګرځي او له عمري خلافت سره د یوځای کېدلو غوښتنه کوي.

د شپې یوه بجه: د نړۍ د مشرانو غونډه پېل شوه، د هر کس په څېره کې ژوره اندېښنه ښکاري او هېڅ کس نه پوهېږي چې څه باید وکړي.

د شپې یوه نیمه بجه: رسنۍ یوه لړزونکي خبر په سر اخیستې او خبر ورکوي چې د پاکستان د پوځ رهبري ډله له خلافت سره یوځای شوې او اټومي وسلې د خلافت د ځواکونو لاسونو ته لوېدلې دي.

د شپې یوه بجه او پنځه څلویښت دقیقې: د نړۍ د مشرانو د غونډې تالار ته خبر رسونکی په بېړه دننه شو، ټول مشران په خپلو ځایونو کې ودرېدل او په ساه نیولي حالت کې یې د خبر د اورېدلو په تمه وو.

خبر رسان: د پاکستان اټومي وسلې د خلافت د ځواکونو لاسونو ته لوېدلې.
په تالار کې ګډوډي شوه، د ګډون کوونکو د وجود وېښتان نیغ شول او په تالار کې چوپتیا خپره شوه.
د شپې دوه بجې: نظامي الوتکو د پاکستان فضا نیولې او حالت په بشپړ ډول نظامي دی.
د شپې دوه بجې او دېرش دقیقې: په پاکستان، ترکیه، عربي او نوره اسلامي نړۍ کې د درنو چاودنو ږغونه واورېدل شول.
د شپې دوه بجې او پنځوس دقیقې: د نړۍ د مشرانو غونډې ته یو امریکایي خبر رسوونکی دننه شو، د امریکا د ولسمشر په غوږ کې یې څه وویل او بېرته ووت.
د شپې دوه بجې او پنځه پنځوس دقیقې: له پنځو دقیقو وروسته د امریکا ولسمشر د تالار چوپتیا ماته کړه او نورو ته یې خبر و رکړ چې د خلافت لښکرو یې په پاکستان او نورو هېوادونو کې نظامي او استخباراتي اډې بمبار کړې دي.
د شپې درې بجې: له تالار څخه د نړۍ مشران په وتو شول او غونډه بې پایلې پای ته ورسېده.
د سهار څلور بجې: په پنټاګون کې نظامي غونډه راوغوښتل شوه.
د سهار شپږ بجې: د خلافت د جهاد او قتال وزیر اعلان وکړ: چې په اسلامي نړۍ کې یې د امریکا او ناټو ټولې نظامي اډې له خاورو سره خاورې کړې، ټول پرسونل یې وژلی او دا مهال اسلامي نړۍ د امریکا له هر ډول نظامي شتون څخه پاکه ده.
د جهاد او قتال دې وزیر امریکا ته ګواښ وکړ: چې د خلافت لښکرې په بشپړ ډول چمتو دي او که چېرته دوی کومه تېروتنه وکړې، نو غابښ ماتوونکی ځواب به ورکړې.
د سهار شپږ بجې او لس دقیقې: د پنټاګون په غونډه کې مشرانو ته خبر ورکړل شو چې په اسلامي نړۍ کې د پرتو اډو له پرسونل سره یې هر ډول اړیکې پرې شوې او فکر کوي چې هلته هرڅه ختم شوي دي.
د سهار اووه بجې: په ختیځ کې د ډېورنډ دکرښې د ماتېدلو خبر ورکړل شو، شمالي لورې ته هم ورته تحرکات لیدل کېږي او له خلافت سره د یوځای کېدلو په پار د اسلامي نړۍ واکمنان له یوبل سره اړیکې نیسي.
امریکا، اروپایي ټولنه او نوره نړۍ غلې ده، پوهېږي چې وضعیت یې له کنټروله وتلی او د حالاتو د کابو کولو وړتیا نه لري، خو د اسلامي نړۍ په دننه کې پولې ماتېږي، د تکبیرونو ملکوتي نعرو فضا په سر اخیستې، امت له سلو کلونو وروسته یو د بل غېږې ته دانګي او خلک په عملي توګه د «إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ (۱) وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللَّهِ أَفْوَاجًا (۲) فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا (۳) عملي ننداره کوي.
د جهاد او قتال وزیر اعلان کوي: حالات یې په بشپړ ډول تر کنټرول لاندې دي او د اللّٰه پر نصرت یې د اللّٰه د دین اقامه بریالی وه، اوس یې د پلانل لومړۍ برخه له یهودو سره جګړه او د اقصی، کشمیر او ایغور ازادي ده او دوهمه برخه یې نړۍ ته د اسلام لېږد او پر ټول بشریت د رسول اللّٰه د لواء رایې (رېول) او د اللّٰه د دین حاکمول دي.
د امت ځوانان د خلافت د لښکرو په صفوفو کې سره منسجم کېږي او د شهادت انګېزې او ارمان ژړونه په لرزه راوستي دي، د اظهار دین لښکرې د اللّٰه په لاره کې د قتال او د خپل لومړي بدر انتظار باسي او امت د خپل تېر برم او شوکت ځلې ته پورته کېږي.
یا اللّٰه یا قادر، ناصر او عزیز ذاته دا ارمان مو په خپل ژوند پوره کړه. اللهم آمین یارب العالمین

ویده امت

لیکوال: هاشم سادات

پخوا به مېندو خپلو بچیانو ته په دې نیت د سینې شیدې (پی) ورکولې چې د بچي په وجود کې مې طاقت پیدا شي، لوی شي، د دین خدمت وکړي، د اسلام او قران حفاظت وکړي، نو ځکه خو د هغه وخت مېندو امت مسلمه ته د محمد ابن قاسم، طارق ابن زیاد، صلاح الدین ایوبي او دغسې نور بلها ډېر اتلان ورکړل، هر یو په خپل وخت کې باطل ته غاښ ماتوونکي ځوابونه ورکړل، ښه په مېړانه یې د اسلام دفاع وکړه، هر یو د ننګ او غیرت یو نه هېرېدونکی تاریخ امت مسلمه ته پرېښود.

او اوسنی مېندې خپلو بچیانو ته په دې نیت د سینې شیدې ورکوي چې بچی مې ویده شي، او هماغه ده چې مونږ ټول په ریښتیا ویده یو، نه د مسجد اقصی فریاد مونږ راویښ کړو او نه هم د عافیه صدیقي چیغو!

د امت مسلمه د مظلومانو سوې کریکې تر اسمانه رسي، خو مونږ یې نه اورو، په پوره دنیا کفري قوتونو خپل د ظلم نظام مسلط کړی دی او عدل قراني نظام محکوم دی، خو مونږ ښه بېغمه د دغه کفري قوانینو لاندې خوبونه کوو، دا مو بېخي په فکر کې هم نه راځي چې قرآن کریم اللّٰه تعالی مونږ ته د څه لپاره رالېږلی دی؟ کلیمه مو ویلې ده، خو دا فکر نه کوو چې د کلیمې نه پس اللّٰه تعالی زمونږ څخه څه شی غواړي؟ کوم کتاب چې اللّٰه تعالی مونږ ته د ژوند د تېرولو او د نظام لپاره رالېږلی و، هغه کتاب مونږ فقط د تلاوت ترحده محدود کړی دی.

د نړۍ د کفري قوتونو جنګ د مسلمانانو سره په لمونځ، روژه، زکوة یا بل کوم انفرادي عمل باندې ندی روان، د نړۍ په هر یو کفري هېواد کې مسلمانان ژوند کوي، خپل لمونځونه کوي، روژې نیسي، جوماتونه یې جوړ کړي دي، تلاوتونه، ذکر اذکار کوي حتی چې تبلیغ هم کوي خو هیڅ مشکل ورته ندی متوجې. اصل مشکل په دې کې دی چې د نړۍ کفار دا غواړي، چې خپل ټول انفرادي اعمال کوئ خو اسلامي نظام چې (د امت مسلمه اجتماعي فریضه ده) د هغې نوم به نه اخلئ نظام به زمونږ منئ. بل خوا ته که مونږ قرآن کریم ته وګورو، په هغې کې اللّٰه تعالی چې څنګه د لمونځ او روژې د فرضیت احکام بیان کړي دي، همدغه شان یې د جهاد د فرضیت احکام هم بیان کړي دي، خو جهاد به د وطن، قوم، پوله پټي لپاره نه وي، بلکې د اسلامي نظام د قیام لپاره به وي.جهاد کې د مسلمانانو عزت دی، کله چې د مسلمان په لاس کې توره وه د نړۍ کفار د مسلمانانو غلامان وو، خو کله چې مسلمان توره کېښوده، په وطنونو او سرحداتو تقسیم شول، د هماغې ورځې څخه راپدیخوا د مسلمانانو د ذلت ورځې شروع شوې، هر یو مسلمان تر خپل وطن پورې محدود شو، د مسلمانانو نه د وحدت هغه نظریه ختمه شوه، د اتفاق او اتحاد هغه صفونه درې ورې شول،خو کفار اوس هم د الکفر ملة واحدة په نظریې ولاړ دي، که هر چېرته یو ځای مسلمانان سر پورته کوي، د ټولې نړۍ کفار پرې د لیونیو سپیو غوندې راټولېږي او نور مسلمانان یې فقط تماشه او نندراه کوي.

محترمو مسلمانانو ورونو!

اوس هم وخت شته دی، که مونږ د جهاد لاره خپله کړو، د مسلمانانو هغه بایللی عزت او تېر ویاړلی برم مونږ بېرته ګټلای شو، کنه نو دغسې به ذلیله یو، کفار به مو هم دغسې وهي ډبوي، وژني به مو، بې عزته کوي به مو، او مونږ به فقط په ژړاګانو، دعاګانو او په مظاهرو د مسلمه امت تش په نوم دفاع او ناکامه ساتنه کوو.

دريمه برخه

ليکوال: الشيخ انور العلوقي رحمه اللّه

ژباړه: ابو قتاده



په جهاد کې د ګډون او شریکېدو طریقې او شرعي حل لاره

۸ ــ د بنديانو او اسيرانو د کورنۍ پالنه کول:

د يو بندي د کورنۍ کفالت کول په اجر او ثواب کې د يو مجاهد د کورنۍ د کفالت کولو برابر او مساوي دی، د دې عمل د عام کولو هم دومره ضرورت دی، چې ژر ده چې هغه وخت راشي چې يو مجاهد له خپله کوره جهاد ته وځي، نو د دې خبرې يې هيڅ پروا نه وي چې که دی د اللّه تعالی په لار کې شهيد او يا هم بندي شي، نو د کور به يې څه کېږي؟ د اهل او عيال برخليک به يې څه وي؟ نه؛ بلکې د ده دا فکر وي چې له ده شاته د ده د کورنۍ د ساتنې او پالنې لپاره زړکونه، لکونه خلک نه بلکې پوره امت وجود لري.

۹ ــ مجاهدينو ته په زکوة ورکولو سره جهاد کې شريکېدل:

قرآن کريم کې د زکوة اته مصارف بيان شوي دي، اللّه فرمايلي: إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللَّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ فَرِيضَةً مِنَ اللَّهِ. (التوبة: ۶۰)

ژباړه: دا صدقې (زکوة) خو په اصل کې د فقيرانو او مسکينانو لپاره دي، او د هغو خلکو لپاره دي چې د صدقو د چارو مامورين وي، او د هغو لپاره چې زړونه يې په لاس راوړل مقصود وي. همدغه راز دا د غاړو د آزادولو او د پوروړو د مرستې لپاره د خدای په لار کې او په مسافر پالنه کې د استعمالولو لپاره دي او دا د اللّه له لوري يوه فريضه ده. د مفسرينو په نيز د في سبيل اللّه الفاظ اکر که عام دي، خو دا په خاصه توګه مجاهدينو ته کارول کېږي، ابوبکر ابن عربي مالکي رحمه اللّه وايي چې امام مالک رحمه اللّه فرمايلي چې في سبيل اللّه ډېر دي خو په دې خبره کې هيڅ اختلاف نشته چې په دې آيت له في سبيل اللّه نه مراد مجاهدين دي، امام نووي رحمه اللّه په خپل کتاب المنهج کې فرمايلي چې د زکوة په مستحقينو کې مجاهدين في سبيل اللّه هم شامل دي، نومورې زياتوي چې مجاهدين د زکوة مال له سفر او جنګي مصارفو نه علاوه په خپلې کورنۍ هم مصرفولای شي.

د زکوة تر ټولو غوره او مستحق خلک مجاهدين دي، افسوس نن سبا ډېر کم خلک مجاهدينو ته زکوة ورکوي، ځکه چې زمونږ په چاپېريال کې دا افواکانې خپرې شوي چې زکوة به فقط تنګ لاسو ته ورکول کېږي، حقيقت داسې ندی، دا يوه شيطاني دوکه ده، د اللّه رسول فرمايلي، د پنځو صورتونو نه علاوه صدقه شتمن مالدار ته نشي ورکولای، په دې کې د رسول اللّه د فرمان مطابق يو مجاهد في سبيل اللّه هم دی، مجاهدين خو په هرحال کې د زکوة مستحق دي، خو نن سبا همدا مجاهدين نور هم زيات مستحق دي، ځکه چې د زکوة ټول اته مصارف دي، او څلور قسمونه يې په مجاهدينو صادق راځي.

۰۱ مجاهدين فقيران دي ۰۲ مجاهدين مسکينان دي

۰۳ مجاهدين مسافر دي ۰٤ د اللّه د لارې مجاهدين دي

نو تاسې هم خپل زکاتونه مجاهدينو ته ورکوئ، او د نورو خلکو هم پام دې کار خير ته را اړوئ.

دريمه برخه

ليکوال: مولوي احمد جان

خارجي او افراطي فکر او جهادي تحريکات

بسم اللّٰه الرحمن الرحيم

د سلف صالحينو (صحابه کرامو، تابعينو، تبع تابعينو يانې اهل القرون الثلاثة) مزاج دا و، چې په تکفير کې به يې نهايت احتياط کاوو، ځکه په دې باندې نهايت خطرناک نتائج مرتب کېږي، فِرَقِ ضالّه (ګمراهې فرقې) يانې خوارج، معتزله، جهميه، شيعه ګان او داسې نورې اسلام ته منسوبې ګمراه ډلې چې د اهل السنت څخه خارجې دي، د سلفو په وخت کې هم د دغه ګمراه عقائدو سره موجودې وې، خو سلفو په فِرَقِ ضالّه ؤ کې شمار کړې وې، يانې د فِرَقِ ضالّه ؤ (ګمراه ډلو) تعبير يې ترېنه کړی، په فِرَقِ مرتده يا په فِرَقِ کافره ؤ سره يې تعبير نکوي، اګرچې په دې کې د بعضو عقائد کفريه وو او د هغو عقائدو په کفر باندې اجماع د سلفو وه، خو بيا هم على الاطلاق د دغو فرقو يا په معينه توګه د دغه فرقو د افرادو تکفير سلفو نه کولو، مثلاً معتزله او جهميه دوه خطرناکې ګمراه ډلې دي، چې ډېر عقائد يې کفريه وو، لکه معتزله و عذاب قبر نه منلو، وزن د اعمالو يې نه منلو، پل صراط يې نه منلو، دا يې نه منله چې جنت او دوزخ اوس موجود دي او جوړ دي، په آخرت کې د اللّٰه د رؤيت او ديدار څخه منکر وو، دغه شان معتزله ؤ او جهميه ؤ قرآن کريم د اللّٰه تعالى کلام نه منلو، بلکې قرآن کريم يې مخلوق ګڼلو او حال دا دی چې په دې د سلفو اجماع ده، چې څوک د قرآن کريم د يو حرف باره کې هم دا عقيده ولري چې دا مخلوق دی، نو دا کفر دی خو بيا هم سلفو معتزله او جهميه ؤ ته ګمراه ويل، خو کافر او مرتد يې ورته نه ويل، بلکې مأمون، واثق او معتصم د مسلمانانو درې واړه خليفه ګان اعلى معتزله وو، او د اهل السنة لوی لوی امامان او علماء کرام به يې په دې وجه بنديانول او شهيدانول چې دوی د خلق القرآن عقيده ولې نه لري او اهل السنت علماء کرام به يې د سرکاري او حکومتي منصبونو څخه معزوله کول او تر هغه به يې په بند کې ساتل چې ترڅو د خلق القرآن د عقيدې اقرار ونکړي، لکه شيخ الاسلام حافظ ابن تيميه رحمه اللّٰه په مجموع الفتاوى کې فرمايي: كَمَا قَالَ السَّلَفُ مَنْ قَالَ: الْقُرْآنُ مَخْلُوقٌ فَهُوَ كَافِرٌ وَمَنْ قَالَ: إنَّ اللَّهَ لَا يُرَى فِي الْآخِرَةِ فَهُوَ كَافِرٌ وَلَا يَكْفُرُ الشَّخْصُ الْمُعَيَّنُ

حَتَّى تَقُومَ عَلَيْهِ الْحُجَّةُ.

ژباړه: لکه څرنګه چې سلفو رحمهم اللّٰه فرمايلي دي چې څوک قرآن کريم ته مخلوق وايي يا په آخرت کې د اللّٰه سبحانه و تعالی د ديدار نه انکار کوي، نو هغه کافر دی، خو يو معين شخص ورباندې تر هغه نه کافر کيږي تر څو چې ورباندې حجت نه وي تمام شوی (ياني چې ترڅو يې د شکوکو او شبهاتو ازاله نه وي شوې او د شکوکو او شبهاتو په اساس د کتاب او سنت نه خپل باطل استدلال کوي نو د دغه باطل تاويل په اساس د دوی تکفير په معين او مشخص طور سره نشي کېدلای نو ځکه مونږ نشو ويلای چې معتزله من حيث الجماعة يا من حيث الفرقه کافران دي، ځکه دا حکم فرد فرد ته شامليږي او داسې تکفير د اهل السنت والجماعت د منهج او عقيدې خلاف دی، هو؛ داسې ويلای شو چې عقيده د خلق القرآن يا عقيده د انکار د رؤيت الهی آخرت کې کفر ده) دغه شان شيخ الاسلام حافظ ابن تيمه رحمه اللّٰه بل ځای فرمايي:

وَعَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ الصَّادِقِ – وَهُوَ مَشْهُورٌ عَنْهُ – أَنَّهُمْ سَأَلُوهُ عَنْ الْقُرْآنِ أَخَالِقٌ هُوَ أَمْ مَخْلُوقٌ؟ فَقَالَ: لَيْسَ بِخَالِقٍ وَلَا مَخْلُوقٍ وَلَكِنَّهُ كَلَامُ اللَّهِ. وَهَكَذَا رُوِيَ عَنْ الْحَسَنِ الْبَصْرِيِّ وَأَيُّوبَ السختياني وَسُلَيْمَانَ التيمي وَخَلْقٍ مِنْ التَّابِعِينَ. وَعَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ وَاللَّيْثِ بْنِ سَعْدٍ وَسُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ وَابْنِ أَبِي لَيْلَى وَأَبِي حَنِيفَةَ وَالشَّافِعِيِّ وَأَحْمَد بْنِ حَنْبَلٍ وَإِسْحَاقَ بْنِ رَاهَوَيْهِ وَأَمْثَالِ هَؤُلَاءِ مِنْ الْأَئِمَّةِ وَكَلَامُ هَؤُلَاءِ الْأَئِمَّةِ وَأَتْبَاعِهِمْ فِي ذَلِكَ كَثِيرٌ مَشْهُورٌ بَلْ اشْتَهَرَ عَنْ أَئِمَّةِ السَّلَفِ تَكْفِيرُ مَنْ قَالَ: الْقُرْآنُ مَخْلُوقٌ كَمَا ذَكَرُوا ذَلِكَ عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ وَغَيْرِهِ وَهَذَا الْمَأْثُورعَنْ أَحْمَد وَهُوَ الْمَأْثُورُ عَنْ عَامَّةِ أَئِمَّةِ السُّنَّةِ وَالْحَدِيثِ أَنَّهُمْ كَانُوا يَقُولُونَ؛ مَنْ قَالَ: الْقُرْآنُ مَخْلُوقٌ فَهُوَ كَافِرٌ وَمَنْ قَالَ: إنَّ اللَّهَ لَا يُرَى فِي الْآخِرَةِ فَهُوَ كَافِرٌ وَنَحْوَ ذَلِكَ.

ژباړه: او د امام جعفر بن محمد صادق رضي اللّٰه عنه نه مشهور روايت دی چې د نومورې څخه خلکو تپوس وکړ، چې قرآن کريم خالق دی که مخلوق؟ نو هغه په جواب کې وفرمايل، چې نه خالق دی او نه مخلوق، بلکې د اللّٰه کلام دی او د امام جعفر صادق رضي اللّٰه عنه په شان روايت د حسن بصري، ايوب السختياني، سليمان التيمي رحمهم اللّٰه او د نورو ډېرو تابعينو رحمهم اللّٰه څخه هم نقل شوی دی.
او هم دغه شان روايات د امام مالک، ليث بن سعد، سفيان الثوري، ابن ابي يلی، امام ابوحنيفه، امام شافعي، امام احمد بن حنبل، اسحاق ابن راهويه رحمهم اللّٰه او د دوی په شان د نورو أئمّوو رحمهم اللّٰه نه هم نقل شوي، نو په دغه موضوع کې د دغه أئموو او د دوی د اتباعو مذهب او موقف ډېر مشهور دی، بلکې د اهل السنت د امامانو او سلفو نه د هغه چا تکفير مشهور دی، هغه چې وايي، چې قرآن کريم مخلوق دی.
او دا خبره د امام احمد بن حنبل رحمه اللّٰه او د اهل السنت د نورو أئموو رحمه اللّٰه نه هم نقل شوې ده، چې دوی فرمايي: چې څوک وايي، چې قرآن کريم مخلوق دی يا د اللّٰه سبحانه و تعالی به په آخرت کې ديدار نشي کېدلای، نو دا سړی کافر دی. او بل ځای کې فرمايي: وَأَمَّا أَحْمَد بْنُ حَنْبَلٍ فَكَلَامُهُ فِي مِثْلِ هَذَا مَشْهُورٌ مُتَوَاتِرٌ وَهُوَ الَّذِي اشْتَهَرَ بِمِحْنَةِ هَؤُلَاءِ الْجَهْمِيَّةِ فَإِنَّهُمْ أَظْهَرُوا الْقَوْلَ بِإِنْكَارِ صِفَاتِ اللَّهِ تَعَالَى وَحَقَائِقِ أَسْمَائِهِ وَأَنَّ الْقُرْآنَ مَخْلُوقٌ حَتَّى صَارَ حَقِيقَةُ قَوْلِهِمْ تَعْطِيلَ الْخَالِقِ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى وَدَعَوْا النَّاسَ إلَى ذَلِكَ وَعَاقَبُوا مَنْ لَمْ يُجِبْهُمْ إمَّا بِالْقَتْلِ وَإِمَّا بِقَطْعِ الرِّزْقِ وَإِمَّا بِالْعَزْلِ عَنْ الْوِلَايَةِ وَإِمَّا بِالْحَبْسِ أَوْ بِالضَّرْبِ وَكَفَّرُوا مَنْ خَالَفَهُمْ فَثَبَّتَ اللَّهُ تَعَالَى الْإِمَامَ أَحْمَد حَتَّى أَخْمَدَ اللَّهُ بِهِ بَاطِلَهُمْ وَنَصَرَ أَهْلَ الْإِيمَانِ وَالسُّنَّةِ عَلَيْهِمْ وَأَذَلَّهُمْ بَعْدَ الْعِزِّ وَأَخْمَلَهُمْ

بَعْدَ الشُّهْرَةِ وَاشْتَهَرَ عِنْدَ خَوَاصِّ الْأُمَّةِ وَعَوَامِّهَا أَنَّ الْقُرْآنَ كَلَامُ اللَّهِ غَيْرُ مَخْلُوقٍ وَإِطْلَاقُ الْقَوْلِ أَنَّ مَنْ قَالَ إِنَّهُ مَخْلُوقٌ فَقَدْ كَفَرَ وَبِذَلِكَ أَفْتَى الْأَئِمَّةُ وَالسَّلَفُ فِي مَثَلِهِ وَالَّذِي يَقُولُ الْقُرْآنُ مَخْلُوقٌ هُوَ فِي الْمَعْنَى مُوَافِقٌ لَهُ فَلِذَلِكَ كَفَّرَهُ السَّلَفُ. قَالَ الْبُخَارِيُّ فِي كِتَابِ «خَلْقِ الْأَفْعَالِ» قَالَ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ: مَنْ قَالَ الْقُرْآنُ مَخْلُوقٌ فَهُوَ كَافِرٌ.

ژباړه: او په دې حوالې سره خو د امام احمد بن حنبل رحمه اللّه موقف ډېر مشهور او د تواتر حد ته رسېدلی او د جهميه ؤ په وجه امام احمد رحمه اللّه د مشهورې ابتلاء سره مخ شوی و او دغه جهميه ؤ به په ښکاره توګه د اللّه د صفاتو او د اللّه د اسماؤ د حقيقت نه انکار کولو او په ښکاره به يې ويل چې قرآن کريم مخلوق دی، تر دې چې د دې موقف حقيقت د اللّه سبحانه وتعالی تعطيل ګرځېدلی و او دېته به يې خلک رابلل او چې چا به يې دعوت نه منلو، نو سزاګانې به يې ورکولې يا به يې په قتل رسول، يا به يې ورته د بيت المال نه سرکاري وظيفه (تنخواه) بندوله، يا به يې د منصب نه معزول (منفک) کولو، يا به يې بندي کولو، يا به يې وهلو او د هر هغه چا تکفير به يې کولو چې د دوی د عقيدې مخالفت به يې کاوو، نو اللّه سبحانه وتعالی د دوی په مقابله کې امام احمد بن حنبل رحمه للّه ته استقامت ورکړ او د دوی په مقابله کې کلک ودرېد تر دې چې اللّه سبحانه و تعالی د ده په ذريعې د باطل اور مړ کړ او د ده په ذريعې اللّه اهل السنت په دوی غالبه کړل او د عزت نه بعد اللّه تعالی جهميه او معتزله ذليل کړل او اللّه تعالی د دوی شهرت هم ختم کړ او په عامو او خاصو کې دا خبره مشهوره شوه چې قرآن کريم د اللّه جل جلاله کلام دی او مخلوق نه دی او دا خبره مطلقاً مشهوره شوه، چې څوک وايي چې قرآن کريم مخلوق دی نو هغه يقيناً کافر دی او په همدې خبره د اهل السنت امامانو او د اهل السنت سلفو فتوی ورکړه چې څوک قرآن کريم ته مخلوق وايي، کافر دی.

امام بخاري رحمه اللّه هم په خپل کتاب (خلق الافعال) کې د سفيان الثوري رحمه اللّه فتوی رانقل کړې چې څوک قرآن کريم ته مخلوق وايي، نو کافر دی.

بل ځای فرمايي: وَتَكْفِيرُ الْجَهْمِيَّةِ مَشْهُورٌ عَنْ السَّلَفِ وَالْأَئِمَّةِ، لَكِنْ مَا كَانَ يَكْفُرُ أَعْيَانُهُمْ فَإِنَّ الَّذِي يَدْعُو إلَى الْقَوْلِ أَعْظَمُ مِنْ الَّذِي يَقُولُ بِهِ وَالَّذِي يُعَاقِبُ مُخَالِفَهُ أَعْظَمُ مِنْ الَّذِي يَدْعُو فَقَطْ وَالَّذِي يُكَفِّرُ مُخَالِفَهُ أَعْظَمُ مِنْ الَّذِي يُعَاقِبُهُ وَمَعَ هَذَا فَالَّذِينَ كَانُوا مِنْ وُلَاةِ الْأُمُورِ يَقُولُونَ بِقَوْلِ الْجَهْمِيَّةِ، إنَّ الْقُرْآنَ مَخْلُوقٌ وَإِنَّ اللَّهَ لَا يُرَى فِي الْآخِرَةِ وَغَيْرُ ذَلِكَ. وَيَدْعُونَ النَّاسَ إلَى ذَلِكويمتحنونهم وَيُعَاقِبُونَهُمْ إذَا لَمْ يُجِيبُوهُمْ وَيُكَفِّرُونَ مَنْ لَمْ يُجِبْهُمْ. حَتَّى أَنَّهُمْ كَانُوا إذَا أَمْسَكُوا الْأَسِيرَ لَمْ يُطْلِقُوهُ حَتَّى يُقِرَّ بِقَوْلِ الْجَهْمِيَّةِ، إنَّ الْقُرْآنَ مَخْلُوقٌ وَغَيْرُ ذَلِكَ.

وَلَا يُوَلُّونَ مُتَوَلِّيًا وَلَا يُعْطُونَ رِزْقًا مِنْ بَيْتِ الْمَالِ إلَّا لِمَنْ يَقُولُ ذَلِكَ وَمَعَ هَذَا فَالْإِمَامُ أَحْمَد رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى تَرَحَّمَ عَلَيْهِمْ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمْ وَكَذَلِكَ الشَّافِعِيُّ لَمَّا قَالَ لِحَفْصِ الْفَرْدِ حِينَ قَالَ: الْقُرْآنُ مَخْلُوقٌ: كَفَرْت بِاللَّهِ الْعَظِيمِ. بَيَّنَ لَهُ أَنَّ هَذَا الْقَوْلَ كُفْرٌ وَلَمْ يَحْكُمْ بِرِدَّةِ حَفْصٍ بِمُجَرَّدِ ذَلِكَ؛ لِأَنَّهُ لَمْ يَتَبَيَّنْ لَهُ الْحُجَّةُ الَّتِي يَكْفُرُ بِهَا وَلَوْ اعْتَقَدَ أَنَّهُ مُرْتَدٌّ لَسَعَى فِي قَتْلِهِ وَقَدْ صَرَّحَ فِي كُتُبِهِ بِقَبُولِ شَهَادَةِ أَهْلِ الْأَهْوَاءِ وَالصَّلَاةِ خَلْفَهُمْ.

ژباړه: او د اهل السنت د امامانو او سلفو نه د جهميه ؤ تکفير مشهور دی، البته معين تکفير به يې د چا نه کولو، ځکه څوک چې د جهميه ؤ عقيدې ته دعوت ورکوي، هغه غټ جهمي دی، د هغه نه چې فقط د جهميت عقيده يې وي او څوک چې د

جهمي عقيدې په مخالفت سزاګانې ورکوي، هغه غټ جهمي دی، د هغه نه چې هغه فقط دعوت ورکوي جهميت ته، او څوک چې د هغه چا تکفير کوي چې د جهميت د عقيدې مخالف وي، دا غټ جهمي دی د هغه چا نه چې د جهميت مخالفينو ته سزاګانې ورکوي او په هغه وخت کې چې د مسلمانانو کوم حکمرانان وو، د هغوی عقيده هم د جهميت وه او دا به يې ويل چې قرآن کريم مخلوق دی او د اللّه ديدار په آخرت کې نشي کېدلای او دغه شان نور د اعتزال او جهميت عقائد يې وو، او دغه حکمرانانو به خلک دغې باطلې عقيدې ته رابلل او د دغه عقيدې مخالفينو ته به يې سزاګانې ورکولې او چې چا به يې دعوت نه قبلولو، نو کافر به يې ګڼلو تر دې چې که يو سني مسلمان به يې بندي کړ، نو تر هغې به يې نه آزادولو چې ترڅو د جهميت او اعتزال په دې موقف او عقيدې، چې قرآن مخلوق دی او دېته ورته په نورو باطلو عقائدو باندې اقرار ونکړي، او تر هغې به يې يو چا ته سرکاري منصب او عهده نه ورکوله نه به يې ورته د بيت المال څخه وظيفه (تنخواه) ورکوله چې ترڅو په دغه عقائدو اقرار ونکړي، خو سره د دې نه امام احمد بن حنبل رحمه اللّه به دوی ته د رحم دعا کوله چې اللّه تعالی دې په دوی رحم وکړي او اللّه تعالی دې دوی ته بخښنه وکړي، يانې د ترحم دعا او استغفار به يې د دوی لپاره غوښت.

همدارنګه کله چې د امام شافعي رحمه اللّه مخې ته حفص الفرد وويل، چې قرآن مخلوق دی نو امام شافعي رحمه اللّه ورته په ځواب کې وويل چې کفر دې وکړ او بيان يې ورته وکړ چې دا موقف کفر دی خو صرف په دغه خبره يې د هغه په ارتداد حکم ونکړ، ځکه حفص الفرد ته هغه دليل نه و واضح، د کوم دليل په وجه چې دی کافر کېده او که چېرته د امام شافعي رحمه اللّه عقيده وه چې حفص الفرد مرتد شوی دی، نو د وژلو کوښښ به يې ورته کړی و او د امام شافعي رحمه اللّه په کتابونو کې د اهل بِدَعُو د شهادت په قبلولو او د هغوی په اقتداء کې په لمونځ کولو تصريح ده، يانې امام شافعي رحمه اللّه خوارج، معتزله، جهميه وغيره بدعه فرقې (ګمراه ډلې) کافرې او مرتدې ندي ګڼلې، بلکې شهادت يې ورته هم قبلولو او لمونځ يې هم ورپسې جائز ګڼلو، ځکه چې اهل السنت په دوی پسې لمونځ کوي او جائز يې بولي او اهل بدع په اهل السنت پسې لمونځ جائز نه بولي.

شيخ الاسلام علامه حافظ ابن تيميه رحمه اللّه د يوې مباحثې په مجلس کې د خپلې زمانې يو شافعي عالم ته وفرمايل: عِنْدِي عَقِيدَةٌ لِلشَّيْخِ أَبِي الْبَيَانِ، فِيهَا أَنَّ مَنْ قَالَ: إِنَّ حَرْفًا مِنْ الْقُرْآنِ مَخْلُوقٌ فَقَدْ كَفَرَ وَقَدْ كَتَبْت عَلَيْهَا بِخَطِّك أَنَّ هَذَا مَذْهَبُ الشَّافِعِيِّ وَأَئِمَّة أَصْحَابِهِ.

ژباړه: چې زما سره د شيخ أبو البيان رحمه اللّه عقيده ده، چې په هغې کې نوموړي رحمه اللّه فرمايي، چې څوک د قرآن کريم يو حرف ته هم مخلوق ووايي، نو هغه کفر وکړ او تا خپل خط په هغه باندې ليکلی دی چې دا د امام شافعي رحمه اللّه او د هغه د اصحابو مذهب دی.

مقصد د دغه ټولو عبارتونو څخه دا و، چې سلف د دې باوجود چې په اتفاق سره عقيده د خلق القرآن ته کفر وايي، خو بيا هم معتزليانو او جهميانو ته کافر نه وايي، بلکې فِرَق ضاله او فِرَق مبتدعه ؤ کې يې شماري او نه يې مأمون الرشيد، معتصم باللّه او واثق باللّه ته مرتدين ويل، اګرچې دا اعلی معتزله وو او د اعتزال د عقيدې د نه قبلولو په وجه يې لوی لوی سلف علماء شهيدانول، بنديانول يې، د منصبونو او عهدو نه يې ليرې کول او وظيفې (تنخواګانې) يې ورته د بيت المال څخه بندولې او بعضې يې تر هغې پورې په قيد او

بند کې ساتل چې ترڅو دغه باطله عقیده قبوله نکړي، خو بیا هم سلفو د دوی په تکفیر کې ډېر زیات احتیاط کاوو او د دغه خلفاوو تکفیر یې نه کاوو.

لکه ابو حامد بن مرزوق رحمه اللّٰه فرمایي: لم یکفر الفقهاء ولا المحدثون المعتزلة، مع ضلالهم وانحرافهم عن نهج السواد الأعظم، ومع ضلالهم لم یکفرهم التابعون ولا أتباعهم ومع تعذیبهم للعلماء لم یکفرهم أیضا الفقهاء ولا المحدثون، وأقصی ما قاله فیهم أهل السنة جمیعا، أنهم مبتدعة.

حاصل یې دا دی چې معتزله ؤکې ډېر نقصانونه وو، څکه دوی ګمراه وو، د اهل السنت والجماعت نه یکې انحراف و، علماء کرامو ته یې ډېرې سزاءګانې ورکړې وې، خو فقهاؤ او محدثینو د دوی تکفیر نه دی کړی، زیات نه زیات ټول اهل السنت د دوی په باره کې دا خبره کوي چې دوی بدعتیان دي.

وقد کان لهم مع انحرافهم عن نهج السواد الأعظم مواقف مشکورة في الرد علی الملاحدة والزنادقة الذین کثروا، فطعنوا في صدر الخلافة العباسیة في الشریعة الإسلامیة بشتی الوسائل، بالمناظرات والتألیف.

حاصل: سره د دې چې په دوی کې د اهل السنة د منهج څخه انحراف موجود و، خو د دوی بعضې ښه کارونه هم وو، لکه دوی په هغه زندیقیانو او ملحدینو ردونه کول چې ډېر شوي وو او د عباسي خلافت په اول وخت کې هغوی په مختلفو طریقو سره یانې په مناظرو او رسالو سره په اسلامي شریعت باندې تنقیدونه کول.

دغه شان ملا علي قاري رحمه اللّٰه د ابن حجر رحمه اللّٰه څخه نقل کوي، هغه فرمایي: الصواب عند الأکثرین من علماء السلف والخلف أن لا نکفر أهل البدع والأهواء إلا إذا أتوا بکفر صریح لا استلزامي، لأن الأصح أن لازم المذهب لیس بمذهب، ومن ثم لا یزال المسلمون یعاملونهم معاملة المسلمین في نکاحهم وإنکاحهم والصلاة علی موتاهم، ودفنهم في مقابرهم، لأنهم وإن کانوا مخطئین غیر معذورین حقت علیهم کلمة الفسق والضلالة إلا أنهم لم یقصدوا بما قالوه اختیار الکفر.

ژباړه: حقه خبره په نیز د اکثر مخکینیو او وروستنیو علماء کرامو دا ده، چې مونږ د بدعتیانو تکفیر نه کوو، مګر که ښکاره کفر وکړي، نه التزامي کفر، څکه ډېر صحیح مذهب دا دی چې لازم د مذهب مذهب نه وي، له همدې وجې همېشه مسلمانانو د بدعتیانو سره د مسلمانانو معامله کړې په نکاحونو کې، په جنازو کې، په ښخولو کې، څکه دوی اګر که خطاء شوي دي او معذور نه دي، فاسق شوي، ګمراه شوي، خو د دوی مقصد کفر نه و.

شهاب خفاجي رحمه اللّٰه هم فرمایي: ذهب الأشعري إلی عدم تکفیر أهل الهوی والمذاهب المردودة، وعلی ذلک أکثر العلماء من الحنفیة والشافعیة.

ژباړه: ذهاب (میلان او ورتګ) کړی ابو الحسن الاشعري رحمه اللّٰه عدم تکفیر د بدعتیانو ته، او عدم تکفیر د هغه مذهبونو ته چې هغه مردود دي، او دا رایه د اکثرو علماء کرامو ده، په احنافو او شوافعو کې.

دا خبره هم د یادولو وړ ده، چې هر قسم بدعت سرې د سُنیّت یانې اهل السنت و الجماعت څخه نه اوباسي، په بدعاتو کې خپل مراتب او قسمونه دي، الاعتصام کې امام شاطبي رحمه اللّٰه وربانډې ښه خوندور بحث کړی، پخواني مبتدعین لکه معتزله، جهمیه، قدریه، خوارج اهل تشیع دوی

تېرول د عقائدو، اصولو او کلیاتو مبتدعین وو، یانې بدعات کلیه ؤکې اخته وو، نو هغوی د اهل السنت څخه خارج دي او که څوک عقیدوي، اصولي او کلي بدعاتو کې نه وي اخته، بلکې یو جزئي او فرعي بدعت کې اخته وي، نو په دې سره د سنیت (اهل السنت والجاعت) څخه نه خارجېږي، او بعضې و اختلافي وي په مابین د اهل السنت کې، نو د هغه خو بدعت هم اتفاقي نه وي، نو څوک وربانديې د استحباب قول کوي او څوک د بدعت، لکه د (معالم فى الوسطية والاعتدال) په دوه ويشتمه صفحه کې د بدعاتو د مراتبو په اړه ليکلي دي:

تفاوت مراتبا لبدع، فمنها ما يخرج منا لسنة، ومنها ما دون ذلک، كما في كلاما لشاطبي في «الاعتصام» وتقسيمها لبدعة إلى كلية وجزئية، وأن الجزئية لا تُخرج من السنة إلا إذا كثرت حتى تقوم مقام البدعة الكلية، القائمة على أصل مخالف للكتاب والسنة.

دبدعاتو د مرتبو فرق:

ژباړه: بعضې د دې څخه هغه دي چې سړی د اهل السنت څخه اوباسي او بعضې دې مرتبې والا نه دي، بلکې د دې څخه د کمې مرتبې والا دي، یانې سړی وربانديې د سنيت څخه نه اوځي لکه دا خبره چې امام شاطبي رحمه اللّه په اعتصام کې کړې ده او بدعت يې تقسيم کړی دی کلي او جزئي ته، او فرمايي چې جزئي بدعات سړی د اهل السنت څخه نه اوباسي، مګر په هغه صورت کې چې بېخي ډېر شي تر دې چې د کلي بدعاتو مقام ته ورسېږي، چې هغه د قرآن او سنت په مخالف اصل او قاعده بانديې ولاړ دي.

شيخ الاسلام علامه ابن تيميه رحمه اللّه هم فرمايي: چې ډېر اهل السنت و الجماعت په بعضې بدعاتو کې اخته وي خو پدې سره هغه د اهل السنت والجماعت څخه نه خارجېږي.

علامه شاطبی رحمه اللّه په خپل کتاب (الاعتصام) کې فرمايي:

ثُمَّ إِنَّ الْبِدَعَ عَلَى ضَرْبَيْنِ: كلِيَّة وجزئِيَّة، فَأَمَّا الكلِيَّة: فَهِيَ السَّارِيَةُ فِيمَا لَا يَنْحَصِرُ مِنْ فُرُوعِ الشَّرِيعَةِ، وَمِثَالُهَا بِدَعُ الْفِرَقِ الثَّلَاثِ وَالسَّبْعِينَ فإِنَّهَا مُخْتَصَّةٌ بِالْكُلِّيَّاتِ مِنْهَا دُونَ الْجُزْئِيَّاتِ. وأَمَّا الْجُزْئِيَّةُ: فَهِيَ الْوَاقِعَةُ فِي الْفُرُوعِ الْجُزْئِيَّةِ، وَلَا يَتَحَقَّقُ دُخُولُ هَذَا الضَّرْبِ مِنَ الْبِدَعِ تَحْتَ الْوَعِيدِ بِالنَّارِ، وَإِنْ دَخَلَتْ تَحْتَ الْوَصْفِ بِالضلال، فَعَلَى هَذَا إِذَا اجْتَمَعَ فِي الْبِدْعَةِ وَصْفَان، كَوْنُهَا جُزْئِيَّةً وَكَوْنُهَا بِالتَّأْوِيلِ، صَحَّ أَنْ تَكُونَ صغيرة واللّه أعلم.

ژباړه: بدعت په دوه قسمه دی، بدعات کليه او بدعات جزئيه، هرچې بدعات کلية دي، نو هغه د شريعت په بې شمېره جزياتو او فروعاتو کې سرايت کوي (يانې د دغه بدعاتو په وجه د دين بې شمېره فرعي او جزئي احکامو صورت متغير کېږي، لکه د شيعه ګانو، معتزله ؤ، جهميه ؤ، خوارجو وغيره بدعات) د هغه مثال لکه د (۷۳) درې اويا ګمراهو ډلو او فرقو بدعات چې دا فرق مختص دی په کلي بدعاتو پورې، نه په جزئياتو پورې، او هرچې جزئي بدعات دي نو هغه په جزئي فروعو کې واقع کېږي (او تر هغه جزئي مسئلې پورې محدود وي او بس) او دا قسم بدعات د هغه بدعاتو څخه نه دي، د کومو بدعاتو باره کې چې د جهنم په اور د سزا ورکولو وعيد (خبرداری) ورکړای شوی، اګرکه دا هم په ضلالت او ګمراهي کې راځي، نو کله چې په يو بدعت کې دوه صفات راشي، يو دا چې بدعت جزئي وي، دويم دا چې په تاويل سره وي، نو دغه بدعت وړوکی بدعت دی.

نو علامه شاطبي رحمه اللّه په دې ځای کې د بدعاتو د حکم په حوالي سره خوندور بحث کړی دی، نو د بدعاتو موضوع هم نن سبا په

څه جهتونو کې د افراط ښکار ده، او په جزئي او اشتباهي او اختلافي بدعاتو یو بل د اهل السنت څخه د ویستل کېدو فتواګانې جاري کېږي، او په یو بل پسې لمونځ کول مکروه تحریمي یا ناجائز بولي، چې دا قسم تشدد هم اسلامي او جهادي تحریکاتو ته ناقابل تلافي نقصان رسوي، ځکه دغه شان افراطي کسانو ته په جهادي تحریکاتو کې ژوند ډېر ګران وي، ځکه جهادي تحریکات د ټول امت نمائندګي کوي، او کوښښ کوي چې د اسلامي امت ټول طبقات د کفري نظامونو په خلاف او د اسلامي نړۍ د آزادۍ لپاره د ځان سره راپورته کړي، او دغه شان عناصر کله د لوی اختلاف او افتراق سبب ګرځي، پداسې حال کې چې اسلافو په جهادي اعمالو کې د کفر خلاف د عقیدوي مبتدعینو یانې فِرَقِ ضالّه ؤ (ګمراهو ډلو) معتزله وغیره ؤ سره په ګډه او یو صف کې کار کړی دی.

نو د اهل السنت والجماعت د اصولو څخه یو مهم اصل دا هم دی چې په تکفیر کې ډېر احتیاط پکار دی، او په دې خبره د اهل السنت ټول فقهاء کرام او امامان متفق دي.

۱–امام ابوالحسن الاشعري رحمه اللّه: امام ذهبي رحمه اللّه فرمایي، چې د ابو الحسن الاشعري رحمه اللّه یوه خبره زما ډېر زیاته خوښه شوي ده او هغه دا چې کله وفات کېده، نو زاهر بن احمد السرخسي رحمه اللّه ته یې وویل: اشهد علی انی لا اکفر احدا من ال القبلة لان الکل یشیرون الی معبود واحد.
پدې خبره ګواه (شاهد) شه، چې زه یو کس ته هم کافر نه وایم د اهل قبله ؤ څخه وي، ځکه دا ټول یو معبود ته اشاره کوي.

۲–امام ذهبي رحمه اللّه فرمایي: قلت وبنحو هذا ادین، وکذا کان شیخنا ابن تیمیة في اواخر ایامه یقول انا لا اکفر احد من الامة.
ژباړه: زما هم دغه دین او طریقه ده چې چا ته کافر نه وایم، او زمونږ شیخ او استاد علامه ابن تیمیة رحمه اللّه به هم په آخري عمر کې دا خبر کوله چې زه په امت کې د هیچا تکفیر نه کوم. (سیر اعلام النبلاء للذهبي، جلد: ۱۵، صفحه: ۸۸)

۴–امام غزالي رحمه اللّه فرمایي: انه لایسارع الی التکفیر الا الجهلة وینبغي الاحتراز من التکفیر ما وجد الانسان الی ذالک سبیلا فان استباحة الدماء والاموال من المصلین الی القبلة المصرحین بقول لا اله الا اللّه محمد رسول اللّه خطأ والخطأ فی ترک الف کافر اهون من الخطاء فی سفک محجمة من دم مسلم. (الاقتصاد في الاعتقاد للغزالي، صفحه: ۱۴۳)
ژباړه: شان دا دی چې جلدي (بیړه او تلوار) نه کوي تکفیر ته مګر جاهلان، او پکار دی احتراز د تکفیر څخه، ترڅو چې دېته انسان لار بیا مومي، ځکه مباح ګرځول د وینو او مالونو د لمونځ کونکو څخه قبلې ته، چې هغوی تصریح کوي په لا اله الا اللّه محمد رسول اللّه، خطاء ده، او خطاء په پرېښودلو د زرو کافرانو کې ډېره اسانه ده، د خطاء څخه په تویولو د معمولي وینې د مسلمان کې.

